ستالین

ژباړه: ویاړ

مارکسیزم
او
د ژبپوهنې مسئلې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوزوف ستالين

مارکسیزم

او د ژبپوهنې مسئلې

ژباړه:ویاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې

جوزوف ستالین

ژباړه:ویاړ

سمون:زیړ افغان

برښنایي خپرېدنه او بیاکتنه: زمری ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د ژبپوهنې اړوند مسائل پېچلي او اړينې اکاډميکي او تخصصي پوهې ته اړتيا لري، خو ما تر خپله وسه هڅه کړی چې دا ژباړه ساده او د پوهېدو وړ وي.

هيله مندیم دا ژباړه د مارکسیزم او د ژبپوهنې د مسئلو په اړه د پوهې په برخه کې ګټوره تمامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

مارکسيزم او د ژېپوهنې مسئلې..... ۱

د ژېپوهنې ځينې مسئلې..... ۳۵

ملګرو ته ځوابونه..... ۴۴

ملګري سانژيف ته ۴۴

ملګرو د.بلکين او س. فورر ته ۴۶

ملګري ا.خولوپف ته ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې[1]

د ځوانو ملګرو یوې ډلې له ما غوښتي چې په مطبوعاتو کې د ژبپوهنې د موضوعاتو، په ځانګړي توګه د ژبپوهنې په اړه د مارکسیزم د لیددود په اړه خپل نظر ووایم.زه ژبپوه نه یم او په هیڅ ډول نشم کولای د دې ملګرو غوښتنه، څرنګه چې اړینه ده پوره کړم.خو له مارکسیزم سره د ژبپوهنې او د نورو ټولنیزو علومو په برخه کې آشنایي لرم، نو د همدې لپاره مې منلې چې د ملګرو ځینو پوښتنو ته ځوابونه ووایم.

پوښتنه:آیا دا سمه ده چې ژبه پر بېخبنا ودرېدلې مخبنا ده؟

ځواب:نه، دا سمه نه ده.

بېخبنا د ټولنې د تکامل په یوه ټاکلي پېر کې د هغې اقتصادي جوړښت دی. مخبنا د ټولنې سیاسي، حقوقي، دیني، هنري او فلسفي لیددود رانغاړي او سیاسي، حقوقي او نور سازمانونه د همدې لیددود سره تړاو لري.هره بېخبنا خپله اړونده مخبنا لري.د فئوډالي سیستم بېخبنا، خپله مخبنا لري؛ خپل سیاسي، حقوقي او دا ډول نور باورونه او تر څنګ یې خپل اړونده سازمانونه لري.د پانګوالۍ نظام او

---

[1] د ستالین د «مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې» تر عنوان لاندې مقاله د ۱۹۵۰ کال د جون په ۲۰ مه په پراودا کې خپره شوه. مخکې له دې په پراودا کې د شوروي د ژبپوهنې د مسئلو په اړه بحث پیل شوی و. دا مقاله د ملګري ستالین لخوا د شوروي د زده کړیالانو یوې ډلې په ځواب کې لیکل شوې، چې د بحث په اړه یې له هغه پوښتنې کړې وې. په پراودا کې لادمخه دا مقالې خپرې شوې وې:«د ماتریالیستی ژبپوهنې بهیر»(د بولواخوسکي د علومو اکرایینې اکاډیمي د غړو لیکنه)، «د روسي د ژبپوهنې تاریخ او د مار تئوري»(د نیکیفوروف لیکنه)«د ژبې د طبقاتي ځانګړتیا مسئلې»(د کودریتستف لیکنه)او نورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول د سوسیالیستي نظام بېخبناوې هم خپلې مخبناوې لري.د بېخبنا د بدلون یا نابودۍ سره اړونده مخبنا یې هم بدلیږي یا نابودیږي، ځرنګه چې د نوې بېخبنا له پیدا کیدو سره نوې مخبنا راپیدا کیږي.

د پورتنیو توضیحاتو په رڼا کې ویلی شوو چې ژبه له مخبنا سره له ریښې توپیر لري.د بېلګې په توګه د روسیې ټولنه او روسي ژبه په پام کې ونیسئ.په تېرو دېرشو کلونو کې د روسیې د پانګوال سیستم بېخبنا ړنګه او نوې سوسیالیستي بېخبنا جوړه شوه.له دې سره سم د پانګوالۍ نظام پر بېخبنا ولاړه مخبنا نابوده او نوې مخبنا رامنځته شوه، چې له سوسیالیستي نظام سره متناسبه وه.له دې بدلون سره پخوانیو سیاسي، حقوقي او نورو بنسټونو خپل ځایونه نویو سوسیالیستي بنسټونو ته ورکړل، خو له دې ټولو سره، روسي ژبه اساساً همغسې پاتې شوه ځنګه چې د اکتبر انقلاب دمخه وه.

آیا روسي ژبه په دې موده کې بدله شوې؟هو، تر یوې اندازې پورې د روسي ژبې قاموس بدل‌شوی، یو شمېر نوي لغاتونه او اصطلاحات چې د نوي سوسیالیستي تولید، د نوي دولت، د نوي سوسیالیستي کلتور، د نویو ټولنیزو اړیکو او اخلاقیاتو له رامنځته کیدو او همدا ډول د تکنالوجۍ او علومو له تکامل سره یې تړاو درلود، په قاموس کې زیاتې شوې؛ د ځینو لغتونو او اصطلاحاتو ماناګانې بدلې شوې، نوي مفهمونه یې پیدا کړل او یو شمېر زړې کلیمې له قاموس څخه حذف شوې.خو د پانګوالۍ د بېخبنا تر ړنګېدو وروسته د روسي ژبې د کلیمو اصلي زېرمه او ګرامري سیستم، چې د ژبې اساس جوړوي، په اصلي بڼه پاتې او له مهم بدلون پرته د اوسنۍ روسي ژبې اساسي بنسټ جوړوي.د یادونې وړ ده چې په دې موده کې د کلیمو نوې اصلي زېرمه او نوې ګرامري سیستم نه دې رامینځته شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سمه ده چې مخبنا د بېخبنا محصول دی، خو دا قطعاً په دې مانا نه ده چې مخبنا دې یوازې د خپلې بېخبنا، د طبقاتو د برخلیک او د سیستم د ځانګړتیاوو منفعله، شنډه او بې‌پره منعکس کوونکی وي.برخلاف د دې، مخبنا له پیدایښت سره سم د یوه اغېزناک ځواک په ډول له بېخبنا سره په فعاله توګه مرسته کوي چې خپله بڼه وموميِ او پیاوړي شي. مخبنا له نوي سیستم سره کمک کوي چې زړه بېخبنا او زاړه طبقات له مینځه ویسي.

له دې پرته بله لاره نشته.مخبنا د بېخبنا په وسیله د دې لپاره رامینځته کیږي چې بېخبنا ته خدمت وکړي، ورسره په فعاله توګه مرسته وکړي چې خپله بڼه پیدا او پیاوړي شي او د مړیژنې بېخبنا او د هغې اړوندې زړې مخبنا د نابودۍ لپاره په فعاله ډول وجنګیږي.که مخبنا له دې کمکي رول څخه ډډه وکړي او د خپلې بېخبنا د فعال مدافع پرځای شنډ دریځ ونیسي او د ټولو طبقاتو په وړاندې یو شان چلند ته مخه کړي، د مخبنا په توګه به خپله ځانګړنه له لاسه ورکړي او نوره به مخبنا ونه ګڼل شي.

ژبه د همدې لپاره له مخبنا سره د بنسټه توپیر لري. ژبه په یوې خاصې ټولنه کې د یوې نوې یا زړې بېخبنا زېږنده نه ده. ژبه د پېړۍ پېړۍ تاریخي بهیرونو او په هغه کې د شته بېخبناوو د تاریخ محصوله ده. ژبه یوازې د یوې طبقې لخوا جوړه شوی نه ده، بلکې د ټولنې لخوا، د ټولنیزو طبقاتو لخوا او د سلګونو نسلونو د هاند او زیار پایله ده.ژبه یوازې د یوې ځانګړې طبقې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره نه ده رامینځته شوی، بلکې د دې لپاره رامینځته شوی چې د ګردې ټولنې او د ټولو ټولنیزو طبقاتو اړتیاوې پوره کړي.د همدې لپاره ژبه د یوې ټولنې لپاره، د ټولنې غړو لپاره او د ټولو خلکو لپاره د مشترکې ژبې په توګه رامینځته شوې ده.سربېره په دې، د خلکو تر مینځ د اړیکو د وسیلې په توګه د ژبې دنده، یوې طبقې ته خدمت او د نورو طبقاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځپل نه، بلکې ټولنې او ټولنیزو طبقاتو ته په مساوي ډول خدمت دی. دا ښکاره کوي، چې ژبه زاړه او مړیژن سیستم ته، نوي او غوړېدونکي سیستم ته؛ زړې بېخبنا او نوې بېخبنا ته او زېښناکګرو او زېښناک کېدونکو ته په مساوي ډول خدمت کوي.

ښکاره ده چې روسي ژبه د اکتبر انقلاب دمخه د روسیې پانګوالۍ او همدا ډول د بورژوایي فرهنګ په چوپړ کې وه، ځرنګه چې نن د روسیې د سوسیالیستي ټولنې د نظام او کلتور په خدمت کې ده.ورته خبره د شوروي اتحاد د نورو ژبو لکه اوکراییني، بلاروسي، ازبکي، کازاخي، ګرجي، ارمني، استونیایي، لیتویني، لیتوانیایي، مالداوي، تاتاري، آذري، باشکیراني، ترکمني او نورو په اړه هم سمه ده. دې ژبو د یادو ملتونو پانګوال زاړه نظام ته خدمت کاوه، ځرنګه چې اوس نوي سوسیالیستي سیستم ته خدمت کوي.همدا د ژبې دنده ده.

ژبه د همدې لپاره رامینځته شوی او شتون لري چې د ټولنې په چوپړ کې وي، د خلکو تر مینځ د اړیکو د وسیلې په توګه عمل وکړي، ټولنې ته عامه وي او د واحدې ژبې په توګه ټولو ته پرته له دې چې طبقاتي وضعیت یې په پام کې ونیسي په مساوي ډول خدمت وکړي.که چیرې یوه ژبه د خلکو لپاره د عامتیا ځانګړنه له لاسه ورکړي او د یوې ټولنیزې دلې په ځپلو سره د بلې ټولنیزې دلې ملاتړ غوره وګڼي، خپل اهمیت له لاسه ورکوي او نوره د اړیکو د وسیلې په توګه د خلکو تر مینځ نه کارول کیږي.دا ډول ژبه د ځینو ټولنیزو دلو تر مینځ د مخصوصو اصطلاحاتو بڼه مومي، چې برخلیک یې تري تم کېدل او نابودېدل دي.

که ژبه له یوې خوا له بېخه له مخبنا سره توپیر لري، له بلې خوا د تولیدي وسایلو او ماشینونو په څېر خپل نقش لوبوي.څنګه چې تولیدي وسایل او ماشینونه پانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وال سیستم او سوسیالیستي سسیتم ته یو شان خدمت کوي، ژبه کټ مټ دغه شان خدمت کوي.

ښایي زیاته کړم چې مخبنا د یو ټاکلي تاریخي پیر او په دغه تاریخي پیر کې د ټاکلي فعالې اقتصادي بېخبنا محصوله ده.د همدې لپاره د مخبنا عمر لنډ او موجودیت یې د بېخبنا له شتون سره تړاو لري.د بېخبنا له نابودۍ او پوپنا کېدو سره د هغه اړونده مخبنا هم محوه او له مینځه ځي. خو د مخبنا په خلاف، ژبه د یو شمېر پرله پسې تاریخي پېرونو محصوله ده چې په دې بهیر کې یې خپله بڼه موندلې، بډایه شوی، پرمختګ یې کړی او له روانتیا برخمنه شوې ده. د همدې لپاره ژبه د هر ډول بېخبنا او مخبنا په پرتله له اندازې زیات عمر کوي.د تاریخ په اوږدو کې د یوې بېخبنا او هغې پورې د اړوندې مخبنا راپیداکېدل او پوپنا کیدل څه، چې ان د څو بیخبناوو او اړوندو مخبناوو پیدایښت او تري تم کیدل هم لامل شوي نه دي چې یوه ټاکلې ژبه دې له مینځه لاړه شي. د هغه ګرامري جوړښت محوه شي او په ځای یې یوه نوې ژبه د کلیمو له نوې زېرمې او نوي ګرامري سیستم سره رامینځته شي.

د پوشکین له مړینې څه باندې سل کاله تېرېږي. په دې موده کې دوه نظامونه، فئوډالي او پانګوالي په روسیې کې نابود شوي او سوسیالیستي نظام د درېم نظام په توګه رامینځته شوی.دوه بېخبناوې له خپلو مخبناوې سره پوپنا شوي او د سوسیالیزم نوې بېخبنا له خپلې اړوندې مخبنا سره رامینځته شوې ده.که په دې موده کې روسي ژبه د بېلګې په توګه وګورو، کوم بنسټیز بدلون په کې نه دی راغلی. د اوسنۍ عصري روسي ژبې جوړښت د پوشکین له ژبې سره ډېر کم توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بيا پوښتنه دا ده چې په دومره موده کې په روسي ژبه کې څه بدلون راغلی؟ په دې موده کې د روسي ژبې د لغتونو قاموس بډايه شوی، زيات شمېر زاړه لغتونه له قاموس څخه ايستل شوي، د يو شمېر زياتو کلیمو ماناګانې بدلې شوي او د ژبې ګرامري جوړښت پياوړی شوی دی.خو په دې پوهېږو چې د پوشکين د ژبې جوړښت،ګرامري سيستم او د کلیمو اصلي زېرمې لا د عصري روسي ژبې بنسټ جوړوي.

ربښتيا څه اړتيا ده چې د هر انقلاب وروسته د شته ژبې جوړښت، ګرامري نظم او د کلیمو زېرمه نابوده او د هغه پر ځای نوي څه وکارول شي؛ هغه څه چې له مخبنا سره کيږي؟څه ګټه لري چې«اوبه»، «ځمکه»، «غر»، «ځنګل»، «کب»، «سړی»، «قدم وهل»، «تر سره کول»، «توليدول»، «سوداګري» او. . . لپاره «اوبه»، «ځمکه»، «غر» او . . . کلیمې ونه کاروو او پر ځای نوې کلیمې وکاروو؟څه ګټه لري چې په ژبه کې د لغتونو ادلون ـ بدلون او په جملو کې د کلیمو ترکيبول د اوسنی ګرامري سيستم له مخې ونشي او بېخي نوی ګرامر رامينځته شي؟په يوه ژبه کې د داسې يو اساسي بدلون ګټه به انقلاب ته څه وي؟ په ټولېز ډول هيڅ مهمه چاره په تاريخ کې بې‌له ځانګړې اړتيا نه پېښېږي.نو په داسې حال کې چې شته ژبه او جوړښت يې د نوي سيستم له اړتياوو سره په اساسي ډول اړخ لګوي، بيا ژبني انقلاب ته څه اړتيا ده؟په ټولنه کې د مولده ځواکونو د آزاد پرمختګ لپاره ښايي او کېدای شي چې زَړه مخبنا د څو کلونو په ترڅ کې نابوده او نوې مخبنا يې‌ځای ونيسي، خو څنګه کېدای شي د څو کلونو په ترڅ کې شته ژبه نابوده او په ځای يې‌نوې ژبه رامينځته کړو، پرته له دې چې ټولنيز ژوند ګډوډ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه د شیندلو له ګوابښ سره مخ کړو؟ پرته له دُن کیشوته څوک دغه دنده په غاړه اخلي[۲]؟!

د دې پوښتنې په پای کې د مخبنا او ژبې تر مینځ یو بل اساسي توپیر ته اشاره کوو:مخبنا په مستقیم ډول د تولید او د انسان له تولیدي فعالیتونو سره اړیکه نلري او یوازې د اقتصاد او بېخبنا د لارې له تولید سره غیرمستقیمه اړیکه لري.د همدې لپاره مخبنا نشي کولای په مولده ځواکونو کې بدلون ژر او په مستقیم ډول منعکس کړي، بلکې په بېخبنا کې له بدلون وروسته دې بدلون ته انعکاس ورکولی شي. دا په دې مانا ده، چې د مخبنا د کړنې ډګر کوچنی او محدود دی.

ژبه د مخبنا په عکس د انسان له ټولو تولیدي فعالیتونو سره سیده اړیکه لري. نه یوازې د انسان له تولیدي فعالیتونو، بلکې د انسان د کاري چاپېریال له ټولو اړوندو کړنو سره، له تولید څخه تر بېخبنا او له بېخبنا څخه تر مخبنا پورې اړیکه لري. د همدې لپاره ژبه په تولید کې بدلونونه ژر او په سیده توګه منعکسوي بې‌له دې چې بېخبنا کې بدلونونو ته په تمه پاتې شي.نو ځکه وایو چې د ژبې د عمل ډګر، چې د انسان د کړنو ټولې برخې رانغاړي، د مخبنا په پرتله ډېر پراخه، هر اړخیزه او تقریباً نامحدود دی.

دا چې ولې ژبه او ترجیحاً د ژبې لغوي زېرمه په دایمي ډول بدلون مومي، لامل یې د ژبې د عمل ډګر او مستقیمه اړیکه ده. د صنعت او کرنې، د سوداګرۍ او

---

[۲] دُن کیشوت (Don Quixote) چې په اسپانیایي کې ورته دُن کیخوته وایي، د اسپانیایي لیکوال سروانتس ساآودرا (۱۵۴۷-۱٦۱٦) لیکلې رمان دی، چې یو پخوانی رمان ګټل کیږي. دُن کیخوته د هغه چا ژوند انځوروي چې له ظلم او ستم څخه د خلکو د ژغورنې په پار تخیلي چلند لري او داسې عجیبې کړنې کوي چې د خلکو له ملنډو سره مخ کیږي. پښتو. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانسپورت، د تکنالوجۍ او ساینس دوامداره تکامل دا اړینوي چې ژبه خپله لغوي زېرمه له نویو کلیمو او اصطلاحاتو سره پیاوړي کړي څو هغه اړتیاوې چې دا برخې یې د کارولو لپاره لري، پوره شي. ژبه په مستقیم ډول دا نوې اړتیاوې منعکسوي او خپله لغوي زېرمه له نویو کلیمو سره پیاوړی او خپل ګرامري سیستم بشپړوي.

نو پایله دا چې:

۱. یو مارکسیست، ژبه د بېخبنا، مخبنا نه ګڼي؛

۲. له مخبنا سره د ژبې مغشوشول ستره تېروتنه ده.

پوښتنه:آیا دا سمه ده چې ژبه پخوا طبقاتي وه او له دې وروسته به هم طبقاتي وي او په ټولنه کې داسې یوه واحده او مشترکه ژبه شتون نلري، چې غیرطبقاتي وي او ټول خلک یې ګډه ژبه وګڼي؟

ځواب: نه، دا سمه نه ده.

د دې موضوع په پوهېدو کې کومه ستونزه نشته چې په کومو ټولنو کې چې طبقات شتون نلري، هلته اصلاً د طبقاتي ژبې خبره مطرح کېدای هم نشي.د لومړني کمون په طایفه ای ټولنه کې طبقات موجود نه وو او طبقاتي ژبې هم شتون نه درلود او ټولنې یوه واحده او مشترکه ژبه درلوده. د لومړني کمون په ګډون د انساني ټولنو لپاره د ژبې لپاره طبقاتي مفهوم کارول له کلیماتو سره هغه لوبه ده چې ردولو ته یې اړتیا نشته. دا به ډېر ساده توب وي چې وغواړو له کلیمو سره په لوبېدو د طبقې مفهوم د ژبې په ګډون پر هر څه وتپو. له طایفه ای ژبو تر قبیله اي ژبو، له قبیله اي ژبو تر ملیتونو ژبو او له ملیتونو ژبو تر ملتونو ژبو پورې د ژبې وروستی تکامل ښکاره کوي چې ژبه د اړیکو د وسیلې په توګه د هرې ټولنې خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته بی له دې چې ټولنیز وضعیت یې په پام کې ونیسي، په مساوي ډول خدمت کړی او دا خدمت یې د خپل تکامل په هر پړاو کې تر سره کړی دی.

دلته مې موخه د مریيتوب پېر یا د منځنی پېړۍ له امپراتوریو نه دی. په دې پېر کې د کورش او سکندر او سزار او شارلماني امپراتوریو کوم اقتصادي بنسټ نه درلود او پوځیان یې بی ثباته او اداري سازمانونه یې لنډمهاله وو. په دې امپراتوریو کې واحدې او ګډې ژبې شتون نه درلود، چې ټول خلک وربانديې پوه شي.دا امپراتورې د قبیلو او ملیتونو هغه ګډوله وه، چې هر یو یې ځانګړی ژبه او د ژوندانه خاصه طریقه لرله. نو موخه مې دا امپراتورې او یا ورته نور نظامونه نه دي، بلکې هغه قبیلې او ملیتونه دي چې د دې امپراتوریو په مینځ کې او یا د هغوې د یوې برخې په توګه یې خپل اقتصادي بنسټونه او ځانګړی لرغوني ژبې درلودی.تاریخ وایي چې د دې قبیلو او ملیتونو ژبې طبقاتي ژبې نه وی او د یادو قبیلو او ملیتونو ټول وګړي وربانديې پوهیدل.

البته د دې ژبو تر څنګ ګړدودونه او سیمه ایزې ژبې هم موجودې وي، چې د قبیلو او ملیتونو د مشترکې او واحدې ژبې تر اېل لاندې وې. مشترکې ژبې، دا ګړدودنه او سیمه ایزې ژبې اېلولې.

وروسته دپانګوالۍ د راڅرګندیدو او د فئوډالي سیستم د نابودۍ او د ملي بازارونو له پیدایښت سره، دا منفرد او بېلابېل ملیتونه په واحدو ملتونو بدل شول او د ملیتونو ژبې د ملتونو په ژبو واوښتی. تاریخ روښانوي چې ملي ژبې طبقاتي ژبې نه وی، بلکې هغه مشترکې ژبې وی چې د یو ملت ټول وګړي وربانديې پوهېدل او د ملتونو واحدې ژبې ګټل کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره مو یاده کړه، چې ژبه د خلکو د اړیکو د وسیلې په توګه د یوې ټولنې ټولو طبقاتو ته په مساوي ډول خدمت کوي او په دې ډول د طبقاتو په وړاندې بې‌پرې ده. خو خلک، بېلابېلې ټولنیزې ډلې او طبقات د ژبې په وړاندې بې‌پرې چلند نه لري.دوې کوښښ کوي د خپلو ګټو لپاره ژبه وکاروي او د خپل پوړ د لغتونو ځانګړې زیرمې، ځانګړي اصطلاحات او ځانګړي عبارتونه پر مشترکې ژبې وتپي. د شتمنو طبقاتو لوړ قشرونه، په ځانګړي توګه اریستوکراتیک اشرافیت او د بورژوازۍ پورتنی پوړونه چې ځانونه یې له خلکو جلا کړي او له خلکو کرکه لري هڅه کوي د «طبقاتي»ګړدودونو، ځانګړي اصطلاحاتو او د بډایې ډلې د «ژبې» په رامینځته کولو سره په دې برخه کې هم ځانونه له خلکو جلا کړي. دا ګړدودونه او ځانګړي اصطلاحات اکثراً په ادبیاتو کې په غلطه د ژبې په توګه پېژندل کېږي او د«اشرافیت ژبې»یا د«بورژوازۍ ژبې»په وړاندې د«پرولتاریا ژبه»یا د«بزګرانو ژبه» یادېږي. د همدې لپاره په ډېرې حیرانتیا وینو چې ځینې ملګري دې پایلې ته رسیږي چې ملي ژبه یوه افسانه او خیال دی او په واقعیت کې یوازې طبقاتي ژبه شتون لري.

زما په باور دا پایله ببڅي غلطه ده.آیا دې ګړدودونو او ځانګړو اصطلاحاتو ته ژبه ویلی شوو؟ هیڅکله نه! ځکه:لومړی، دا ګړدودنه او ځانګړي اصطلاحات خپل ګرامري سیستم او اساسي لغوي زېرمې نه لري، دا دواړه له ملي ژبې پور اخلي. دوېم، د دغه ګړدودونو او ځانګړو اصطلاحاتو ساحه ډېره محدوده ده. یوازې د معینې طبقې په اعیان پوړ کې کارول کیږي او په ټولنه کې د عامو انسانانو تر مینځ د اړیکو د وسیلې په توګه وړتیا نلري.نو بیا دا ګړدودنه او د یو خاص پوړ ځانګړي اصطلاحات څه لري؟ دا د ځانګړو کلیمو هغه ټولګه ده چې د اشرافیت او د بورژوازۍ د عیان پوړ ذوق منعکسوي؛ یو شمېر ټاکلي اصطلاحات او عبارات دي چې په نړه توب او مودبانه ادا ځان بېلوي او د ملي ژبې له «زیږو»

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصطلاحاتو او عباراتو پاک دي. بالاخره يو ټاکلی شمېر بهرني لغتونه هم احتوا کوي.خو ټول بنسټونه، د لغاتو ټاکنده برخه او ګرامري جوړښت له عامې ژبې، له ملي ژبې څخه په پور اخلي. له همدې کبله دا ګړدودنه او اصطلاحات د عامې ملي ژبې فرعي څانګې دي، چې له هر راز ژبنې استقلال بی برخې او په انحطاط محکومې دي.

داسې باور چې کېداې شي دا ګړدودونه او ځانګړي اصطلاحات په يوې خپلواکې ژبې بدل او د دې جوګه شي چې ملي ژبه څنډې ته کړي او د هغې ځای ونيسي، د تاريخي ليددود هېرونه او د مارکسيستي دريځ د پرېښودنې په مانا ده.

ځينې د مارکس د«سپيڅلي ماکس» په نامه ليکنه راوړي چې وايي بورژوازي «خپله ژبه» لري چې د «بورژوازي محصوله»[۳] او په سوداګريز روح سمباله ده. يو شمېر ملګري دا عبارت رانقلوي چې ثابته کړي چې مارکس د ژبې پر«طبقاتي ځانګړتيا» باور درلود او واحده ملي ژبه يې ردوله. که دا ملګري منصفانه چلند کوي، نو بايد د مارکس د همدې مقالې يوه بله برخه رانقل کړي چې هلته مارکس د ملي ژبو د رامينځته کېدو پر لارو چارو غږيږي او وايي چې «د اقتصادي او سياسي تمرکز په پايله کې بېلابېل ګړدودونه په واحده ملي ژبه کې راغونډ شول».[٤]

[۳] کارل مارکس او فردريش انګلس، آثار، برلين، ۱۹۵۸، دريم ټوک، مخ ۲۱۲.

[٤] هماغه اثر، مخونه ۴۱۱-۴۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکس د ژبې د اعلی بڼې په توګه پر واحدې ملي ژبې باور درلود چې ګړدودونه د ژبې د ادنی بڼې په توګه اېلوي.

هغه ژبه چې مارکس يې د بورژوازي ژبه ګڼي او وايي چې «د بورژوازي محصوله ده» څه کېدای شي؟ آيا مارکس دا ژبه هغه ملي ژبه ګڼله چې خپل خاص ژبنی جوړښت لري؟ آيا موخه يې همداسې يوه ژبه وه؟ ښکاره ده چې نه! مارکس يوازې غوښتل ووايي چې بورژوازي واحده ملي ژبه له خپلې سوداګريزې خاصې صنفي ژبې سره ککړوي؛ يا په بله وينا بورژوازي خپل خاص سوداګريز صنفي اصطلاحات لري.

داسې ښکاري چې دې ملګرو د مارکس خبرې تحريف کړي. دوی بېله دې چې د موضوع منځپانګه وڅېړي، د مارکس خبرې نه د يو مارکسيست په توګه بلکې د يو دګماتيست په توګه رانقل کړي دي.

«په انګلستان کې د کارګرې طبقې وضعيت» تر عنوان لاندې د انګلس ليکنه، هغه بله سرچينه ده چې د سند په توګه کارول کيږي. انګلس ليکي چې په بريتانيا کې «. . . کارګره طبقه ورو ورو د انګلستان له بورژوازۍ څخه په يو جلا ملت بدلېږي» او «کارګران له بورژوازۍ څخه په جلا ګړدود خبرې کوي، ټېل اند او نصب العين لري، دودونه او اخلاقي آرونه يې توپير لري، همدا ډول د دين او سياست په اړه دريځ يې هم له بورژوازۍ سره توپير لري.»[۵] ځينې ملګري له دې مقالې داسې استنباط کوي چې ګواکی انګلس د عامې ملي ژبې اړتيا ردوي او د ژبې پر «طبقاتي ځانګړتيا» باور لري. سمه ده چې انګلس دلته له ګړدودونو غږيږي

[۵] هماغه اثر، مخونه ۴۱۱-۴۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه له ژبو؛ خو په دې بشپړې پوهېدنې سره چې ګړدودونه د ژبې د ځانګو په توګه د ملي ژبې ځای نیولی نشي. خو ځنګه چې ښکاري دا ملګري د ژبې او ګړدود تر مینځ له شته توپیر سره کومه لېوالتیا نلري.

ښکاره ده چې دا نقل قول د پورتنۍ ادعا لپاره مناسب نه دی. ځکه انګلس دلته د «طبقاتي ژبې» په اړه نه غږیږي، بلکې له طبقاتي فکر، نصب العین، دود، اخلاقي معیار، ديني دریځ او سیاست څخه خبرې کوي. دا ښکاره ده چې د بورژوازي او پرولتاریا فکرونه، نصب العینونه، دودونه، اخلاقي آرونه، ديني او سیاسي دریځونه له یو بل سره مخالف دي. خو دا توپیرونه د واحدې ملي ژبې او د ژبې له «طبقاتي ځانګړتیا» سره څه تړاو لري؟ آیا په ټولنه کې د طبقاتي تضاد شتون، کولای شي د ژبې د «طبقاتي ځانګړتیا» د ادعا په ملاتړ او د واحدې او ملي ژبې د اړتیا د ردونې په پار کارنده تمام شي؟ مارکسیزم سره له دې چې په ټولنه کې پر طبقاتي تضادونو کلک باور لري، خو مشترکه ژبه د ملت جوړونې یوه بنسټیزه ځانګړنه ګڼي. آیا ملګري دا مارکسیستي تز قبلوي؟

د لافارګ[٦] وینا هم راخیستل کیږي چې هغه په («فرانسوي ژبه: له انقلاب مخکې او وروسته») رساله کې د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» منلی او د ټولو خلکو لپاره یې د مشترکې ملي ژبې اړتیا رد کړی ده.دا سمه نه ده. لافارګ په حقیقت کې د «اشرافو» یا د «نجباوو ژبې» او د هغوې د بېلابېلو ډلګیو له«ځانګړو اصطلاحاتو»

---

[٦] پل لافارګ (۱۸۴۲-۱۹۱۱)د فرانسې او د نړیوال کارګري غورځنګ یو اوښار فعال او یو فوق العاده مارکسیست مروج او مبلغ و. لافارګ د فرانسې د کارګرانو ګوند یو تن بنسټ ایښودونکی و، د مارګس او انګلس شاګرد او نژدی کس او همدا ډول د مارکس د لور (لورا) خاوند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره کوي. خو دا ملګري هېروي، لافارګ چې د ژبې او د ځانګړو اصطلاحاتو تر مینځ له توپیر سره لېوالتیا نه درلوده، په یو ځای کې ګډودونه «ساختګي ژبه» او په بل ځای کې یې«د ځانګړي پوړ اصطلاحات»یادوي. یقیناً هغه په خپلې رسالې کې ویلی دي، چې «ساختګي ژبه، چې اشرافیان له نورو ببلوي. . . له هغې ژبې رامینځته شوی چې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ده، هغه ژبه چې هم بورژوازي وربانديې خبرې کوي او هم صنعتګران، هم ښاریان وربانديې غږیږي او هم کلیوال».

له دې سره لافارګ ته د هغې مشترکې ژبې شتون او اړتیا څرګنده ده، چې د ټولو خلکو لپاره د پوهېدو وړ وي. هغه په دې ښه پوهېږي چې د«اشرافو ژبه» او نور ګډودونه او ځانګړي اصطلاحات د ټولو خلکو د مشترکې ژبې تابع دي او له ملي ژبې سره تړاو لري.نو د ژبې د«طبقاتي ځانګړتیا» د اثبات لپاره د سرچینې په توګه د لافارګ کارول، یوه بابزه هڅه ده.

همدا ډول په دې حقیقت استناد کیږي، چې یو وخت په انګلستان کې فئوډالانو «د څو پېړۍ لپاره»په فرانسوي ژبې خبرې کولې، حال دا چې د خلکو ژبه انګلیسي وه. له دې استناد سره هڅه کیږي چې د ژبې د «طبقاتي ځانګړتیا» د ادعا د ثابتولو او د ملي مشترکې ژبې د اړتیا له شتون سره د مخالفت لپاره ګټه واخیستل شي.خو دا د دلیل پر ځای ډېره کیسي ته پاتې کیږي!اول، خو دغه وخت ټولو فئوډالانو په فرانسوي ژبې خبرې نه کولې، بلکې د انګلستان فئوډالې طبقې یوې کوچنۍ اعیانې برخې چې په دربار او د دربار په سیاسي غونډو کې ګډون کاوه، په فرانسوي خبرې کولې. دویم، دا کومه «طبقاتي ژبه» نه وه چې دوې وربانديې غږېدل، بلکې هغه عادي فرانسوي ژبه وه چې ټولو فرانسویانو وربانديې خبرې کولې. درېم، په دې پوهېږو چې د وخت په تېرېدلو سره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسوي ژبه پرته له دې چې کومه نښه پرېږدي ورکه شوه او ځای يې انګليسي ژبې ونيو، چې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ژبه وه. آيا دا ملګري ګمان کوي چې انګليسي فئوډالانو «د پېړۍ پېړۍ لپاره» د ژباړونکو له لارې د انګلستان له خلکو سره اړيکې ټينګولې؟ دوې انګليسي نه کاروله؟ آيا دا ملګري ګمان کوي چې دغه وخت د انګلستان خلکو لپاره مشترکه ژبه موجوده نه وه او په انګلستان کې فرانسوي ژبه داسې ژبه وه چې د واکمنې ټولنې له ژبې سره يې توپير درلود او يوازې د انګلستان د اشرافيت په تړلي چاپېريال کې کاريدله؟ څرنګه يو څوک کولای شي په داسې يو ډول «استدلالونو» چې کيسې ته ورته دي، د ټولو خلکو لپاره د مشترکې ژبې شتون او اړتيا رد کړي؟

کله چې په روسيې کې اشرافيت واکمن و، د تزار درباريان او چارواکي فرانسوي ژبې ته لېوال شوي وو. دوې ويار ګټلو چې په روسي ژبه د خبرو پر مهال، فرانسوي ګډه کړي او يا هم روسي په زيره فرانسوي لهجه تلفظ کړي. آيا دا په دې مانا ده، چې دغه وخت په روسيې کې ټولو وګړو ته د پوهېدنې وړ روسي ژبه موجوده نه وه؟ آيا د ټولو خلکو لپاره عامه ژبه، يوازې يو خيال او «طبقاتي ژبه» يو حقيقت و؟

زمونږ ملګري دلته لږ تر لږه دوې تېروتنې کوي:

لومړۍ تېروتنه دا ده چې ژبه له مخبنا سره مغشوشوي. دوې فکر کوي څنګه چې مخبنا طبقاتي ځانګړتيا لري، نو ژبه هم د دې په ځای چې د ټولو وګړو لپاره عامه وي، بايد يوه طبقاتي ژبه وي. مخکې مې وويل چې ژبه او مخبنا دوه جلا مفهمونه دي او يو مارکسيست دا دواړه نبايد ګډوډ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه تبروتنه دا ده چې د بورژوازي او پرولتاریا تر مینځ د ګټو اختلاف او د دوې تر مینځ شدید طبقاتي تضاد؛ د ټولنې د غیرمتجانس کېدو په مانا ګڼي، چې په کې د متضادو طبقاتو تر مینځ هر ډول اړیکې شلېږي. دوې باور لري څنګه چې نوره واحده ټولنه نشته او ټولنه په طبقاتو ویشل شوی، نو د ټولنې واحدې ژبې، ملي ژبې ته هم اړتیا نشته. دوې وایي چې واحده اجتماع ونلرو نو د ټولو وګړو لپاره عامه ژبه نلرو، ملي ژبه نلرو؛ څه چې پاتې کیږي یوه طبقاتي ټولنه او «طبقاتي ژبه» ده.

طبیعي خبره ده چې هره «طبقاتي ژبه» باید خپل «طبقاتي» ګرامر ولري: «پرولتاریایي» ګرامر یا «بورژوایي» ګرامر. داسې ګرامرونه چیرې دی؟ د داسې ګرامرونو نشتون زموږ ملګري نه اندېښمنوي، ځکه باورمن دي چې دا ډول ګرامرونه به د وخت په تېرېدلو راڅرګند شي.

یو وخت زموږ په هېواد کې داسې«مارکسیستان»هم ول چې د اکتوبر له انقلاب وروسته یې ټینګار کاوه، چې د ریل کومې پټلۍ چې پاتې دي هغه بورژوایي پټلۍ دي او موږ مارکسیستانو ته نه ښایي چې ویې کاروو او باید ړنګې او پر ځای یې «پرولتاریایي» پټلۍ جوړې کړو. داسې کسان باید «سمځ مېشت» ونومولی شي!

ښکاره ده چې د ټولنې، د طبقاتو او د ژبې په اړه دا ډول وروسته پاتې انارشیستي نظر له مارکسیزم سره هیڅ ډول تړاو نلري. خو دا ډول نظر لا زموږ د ځینو سرګردانو ملګرو په مغزو کې خپل ځای لري.

دا خبره سمه نه ده چې د سختې طبقاتي مبارزې د شتون له کبله ټولنه په داسې طبقاتو وېشل شوی چې په یوې واحدې ټولنې کې له یو بل سره هیڅ ډول اقتصادي اړیکې لرلی نشي. برعکس، تر هغه چې پانګوالي ادامه لري، بورژوازي او پرولتاریا به د پانګوال نظام د اجزاو په توګه له یو بل سره په ټولو اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونو کې اړیکې ولري. بورژوازي نشي کولای خپل ژوند ته ادامه ورکړي او شتمنه شي، مگر دا چې مزدي کارگران تر واک لاندې ولري؛ پرولتاریا هم نشي کولای ژوند وکړي مگر دا چې خپل کاري ځواک په پانگوالو وپلوري. که د طبقاتو تر مینځ ټولې اقتصادي اړیکي ودربږي، دا به د تولید د درېدنې په مانا وي او د تولید درېدنه به د ټولنې او د طبقاتو د نابودیدنې په مانا وي. طبیعتاً، یوه طبقه هم په خپل لاس د خپلې نابودۍ غوښتونکی نه ده. پایله دا چې طبقاتي مبارزه که هر څومره تېزه او سخته هم وي، د ټولنې د نابودیدو نه لامل کیږي. د مارکسیزم په اړه ناپوهي او د ژبې د ځانګړتیاو په هکله نه پوهېدنه، زمونږ ځینې ملګري د ټولنې د نابودۍ او د «طبقاتي» ژبې او «طبقاتي» ګرامر په تړاو افسانو ویلو ته اړ باسي.

د استناد ډګر پراخیږي. له لنین څخه هم ماخذ راوړل کیږي چې د پانګوالۍ په واکمنۍ کې یې پر دوو فرهنګونو ـ بورژوایي او پرولتاریایي فرهنګونو ـ باور درلود. لنین د پانګوالۍ په واکمنۍ کې د ملي کلتور شعار یو ناسیونالیستي شعار ګڼلو. دا سمه ده او لنین یقیناً چې سم ویل. خو دا د ژبې له «طبقاتي ځانګړتیا» سره څه تړاو لري؟ کله چې دا ملګري هغه څه ته مراجعه کوي چې لنین یې د پانګوالۍ په واکمنۍ کې دوه جلا فرهنګونه یادوي، نو غواړي په ښکاره ډول لوستونکو ته دا نظر اثبات کړي چې په ټولنه کې د دوو بورژوایي او پرولتاریایي فرهنګونو شتون په دې مانا دی چې په دغه ټولنه کې باید دوه طبقاتي ژبې هم شتون ولري.او څنګه چې ژبه له فرهنګ سره تړاو لري، نو دا ملګري دې پایلې ته رسیږي چې لنین د یوې ملي واحدې ژبې اړتیا رد کړی او پر «طبقاتي» ژبو یې باور درلود.

هغه تېروتنه چې ملګري یې کوي له فرهنګ سره د ژبې ګډول او مغشوشول دي. فرهنګ او ژبه دوه بېلابېل شیان دي. فرهنګ کولای شي بورژوازي یا سوسیالیستي وي خو ژبه د اړیکو د وسیلې په توګه تل د ټولو خلکو لپاره مشترکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او بورژوازي او سوسیالیستي، دواړو فرهنګونو ته خدمت کولای شي. آیا دا حقیقت نه دی چې روسي، اوکرائیني او ازبکي ژبې، چې نن د دې ملتونو سوسیالیستي فرهنګ په چوپړ کې دي، د اکتبر له انقلاب دمخه د همدې ملتونو د بورژوایي فرهنګ په چوپړ کې وې؟ نو دا ملګري په ښکاره توګه تېروتنه کوي چې دې پایلې ته رسیږي چې د دوو فرهنګونو شتون د دوو بېلابېلو «طبقاتي» ژبو د زېږ سبب کیږي او د یوې واحدې ژبې اړتیا له مینځه وړي.

لنین کله چې د دوو فرهنګونو په اړه غږېږي، په سمه دا بیانوي چې د دوو فرهنګونو شتون د یوې واحدې ژبې د نفي او د دوو «طبقاتي» ژبو په مانا نه ده. لنین وایي چې باید یوه واحده ژبه شتون ولري.کله چې بوندیستانو[۷]پر لنین تور ولګاوه چې فرهنګ «غیرملي» ګڼي نو د ملي ژبې له اړتیا هم منکر دی؛ لنین، ځنګه چې پوهېږو په قاطعانه ډول اعتراض وکړ او ویې ویل چې هغه د بورژوازي فرهنګ په وړاندې جنګیږي نه د ملي ژبو په وړاندې، څه چې اړتیا یې د مناقشې او مباحثې وړ هم نه ویني. د حیراني خبره ده چې زموږ یو شمېر دوستان د بوندیستانو په پل روان دي.

---

[۷] بوند ـ د لیتوانیا، پولنډ او روسي یهودو کارګرانو عمومي اتحادیه وه، چې د یهودو د کوچنۍ بورژوازي یو اپورتونیست سازمان و. د دې سازمان بنسټ د ۱۸۹۷ په اکتوبر کې په ویلنا کنګره کې کېښودل شو. بوند په ټولیزه توګه د لاسي صنایعو په برخه کې د بوختو یهودانو تر مینځ کار کاوه. د روسیې د کارګرانو د سوسیال ـ دموکرات ګوند په لومړۍ کنګره کې، چې په ۱۸۹۸ کال کې جوړه شوه، بوند له دې ګوند سره د «یو خپلواک او مستقل سازمان په توګه چې یوازې د یهودي پرولتاریا ځانګړو مسئلو ته یې پام درلود» یوځای شو. کله چې له ګوند سره یوځای شو نو د روسي کارګرې طبقې په غورځنګ کې یې نیشنلیزم او تجزیه پالنې ته لمن ووهله. د بوندیستانو بورژوا ـ نیشنلیستي دریځ د ایسکرا لخوا په پرېکنده ډول رد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې ملګري چې فکر کوي لنین د واحدې ژبې له اړتیا منکر و، نښه به وي چې د دا خبرې یې ولولي:

«ژبه د انسان د اړیکو لپاره ډېره مهمه وسیله ده. د ژبې یووالی او بی ځنډه تکامل، له معاصر پانګوال نظام سره د متناسبه، آزاده او پراخه سوداګریزو مبادلاتو یو مهم شرط دی.د ژبې یووالی په بېلابېلو طبقاتو کې د خلکو د آزادو او پراخو ډلو د نژدې کېدو یو مهم شرط دی. »[۸]

دا روښانوي چې زمور ښاغلیو ملګرو د لنین نظریات په ناسم ډول وړاندې کړي دي.

بالاخره د ستالین خبره راخلي.د ستالین دا عبارت رانقلوي:«په دې پېر کې بورژوازي او ناسیونالیست ګوندونه یې د دې ملتونو ستر لارښود ځواکونه وو او لا هم دي.»[۹] دا خبره سمه ده. هماغه ډول چې پرولتاریا او انترناسیونالیستي ګوند یې د پرولتري فرهنګ رهبري کوي، همدغه ډول بورژوازي او ناسیونالیست ګوند یې واقعاً هم د بورژوایي فرهنګ رهبري کوي. خو دا د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» سره څه تړاو لري؟ آیا دا ملګري په دې نه پوهېږي چې ملي ژبه د ملي فرهنګ یوه برخه ده، چې کولای شي هم بورژوایي او هم پرولتاریایي فرهنګونو ته خدمت وکړي؟ آیا زمور ملګري د دې مهم مارکسیستي فورمول په اړه خبر نه دي، چې

---

[۸] ولادیمیر ایلیچ لنین،«د ملتونو د برخلیک ټاکنې حق»، غوره آثار په دوو ټوکو کې، انګلیسي نسخه، مسکو، ۱۹۵۲، لومړی ټوک، دویمه برخه، مخونه ۳۱۸-۱۹

[۹] جوزوف ستالین، «لنینیزم او ملي مسئلې»، آثار، انګلیسي نسخه، مسکو، ۱۹۵۴، یولسم ټوک، مخ ۳۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني روسي، اکرائيني، بيلاروسي او نور فرهنګونه د منځپانګې له پلوه سوسيالیستي او د بڼې له پلوه ملي دي؟؛ آيا په دې نه پوهېږي چې ژبه د بڼې له پلوه ملي ده؟ آيا دوې دا مارکسیستي فورمول نه قبلوي؟

زمونږ د ملګرو تېروتنه دا ده چې دوې د فرهنګ او ژبې په مينځ کې توپير نه کوي او په دې نه پوهېږي چې د ټولنې د تکامل په هر پېر کې فرهنګ د منځپانګې له پلوه بدلون مومي، حال دا چې ژبه د څو پېرونو په بهير کې اساساً يو ډول پاتې کيږي او نوي او زاړه دواړو فرهنګونو ته يو شان خدمت کوي.

نو ويلی شوو:

الف ـ هغه ژبه چې د يوې ټولنې د خلکو لپاره مشترکه ده، د خلکو د اړيکو د وسيلې په توګه تل د ټولنې واحده ژبه ده او په راتلونکي کې به هم وي؛

ب ـ د ګړدودونو او ځانګړو اصطلاحاتو شتون، نه يوازې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ژبه نه نفي کوي، بلکې د ملي ژبې د منلو تر څنګ، د مشترکې ژبې د يوې ځانګې په توګه له ملي ژبې پيروي کوي؛

ج ـ د ژبې په اړه د «طبقاتي ځانګړتيا» فورمول کارونه تېروتنه او په ورته وخت کې يو غير مارکسیستي فورمول دی.

پوښتنه: د ژبې ځانګړي خصلتونه څه دي؟

ځواب: ژبه هغه اجتماعي ښکارنده(پديده) ده، چې د يوې ټولنې په فعاليتونو کې خپله وندې لوبوي. ژبه د ټولنې له ژوند او تکامل سره ژوند او تکامل مومي او د ټولنې له مرګ سره مري. ژبه له ټولنې پرته شتون نلري او د تکامل قوانين يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې هغه وخت د پوهېدنې وړ دي، چې د ټولنې او د هغو خلکو له تاریخ سره په نه بېلېدونکې توګه مطالعه شي چې تر مطالعې لاندې ژبه ورسره تړاو ولري او د هغه پنځوونکي او زېرمه جوړونکي وي.

ژبه یوه وسیله ده. هغه افزار دی، چې په مرسته یې خلک له یو بل سره خبرې اترې کوي، اندونه سره بدلوي رابدلوي او یو بل پېژني. ځنګه، چې ژبه له فکر سره مستقیم تړاو لري؛ نو فکر په کلیمو کې ثبت او سمبالوي او بیا د کلیمو د ترکیبولو له لارې هغه په جملو بدلوي. ویلی شوو چې ژبه د فکر او د انسان د فکري فعالیتونو د بریاوو د بهیر پایله ده، چې په انساني ټولنه کې د اندونو مبادله شوني کوي.

د اندونو مبادله یوه دایمي او حیاتي اړتیا ده. بی له دې ناشوني ده چې د طبیعي ځواکونو په وړاندې د مبارزې او د اړینو مادي ارزښتونو د تولید لپاره د مبارزې په موخه د خلکو ګډې هڅې همغږی کړو. بېله ژبې د ټولنې د مولده فعالیتونو د بریا ډاډمنتیا ناشوني ده. نو ویلي شوو چې بېله ژبې د ټولنیز تولید بقا ناشوني ده. سربېره پر دې، په یوې ټولنه کې له هغې ژبې پرته چې د ټولو خلکو لپاره د پوهېدنې وړ او عامه وي، تولید نابودېږي او ټولنه له مینځه ځي. نو که له یوې خوا ژبه د اړیکو وسیله ده، په ورته وخت کې د ټولنې د مبارزې او پرمختګ وسیله هم ده.

د یوې ژبې ټولې کلیمې د هغې ژبې د لغتونو قاموس جوړوي او په قاموس کې څه چې مهمه ده د لغتونو بنسټیزه زېرمه ده، چې د کلیمو ریښې او مشتق شوی کلیمې دواړه رانغاړي.که څه هم د ژبې د لغوي قاموس په پرتله د دې کلیمو شمېر یو څه کم دی، خو عمر یې ډېر او پېړۍ پېړۍ ته رسیږي. دا کلیمې د ژبې لپاره د نویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغتونو بنسټ جوړوي.د لغتونو قاموس د ژبې وضعیت څرګندوي:هر څومره چې د لغتونو قاموس بډای او متنوع وي، په هماغه کچه ژبه بډایه او پرمختللي وي.

خو د لغتونو زېرمه په خپل ذات کې ژبه نه جوړوي، بلکې تر ډېره د ژبې لپاره د ودانیزو موادو بڼه لري. څرنګه چې په ودانیزو چارو کې ودانیز مواد د ودانۍ جوړېدو په مانا نه ده، که څه هم یوه ودانۍ بی له ودانیزو موادو جوړېدای نشي، همداسې د لغتونو زېرمه په یوازې توګه ژبه نه ده، خو بی له دې د ژبې تصور کېدای هم نشي. د یوې ژبې لغوي زېرمه هغه وخت خورا اهمیت مومي، چې په ګرامري اډانه کې ځای په ځای شي. ګرامر د کلیمو ادلون بدلون او په جملو کې د کلیمو ترکیبول تنظیم او سمبالوي او ژبې ته یوه منسجمه او مهمه دنده وربخښي.

ګرامر(صرف و نحو) د هغو قواعدو ټولګه ده، چې د کلیمو ادلون بدلون او په جملو کې د هغوې ترکیبول سمبالوي. د همدې لپاره باید د ګرامر منندوی ووسو، چې د ژبې لپاره یې دا شونتیا برابره کړې چې د انسان د اندونو لپاره مادي ژبنی پوښښ برابر او افکار یې ولېږدوي.

د ګرامر مهمه ځانګړنه دا ده چې د کلیمو د بدلون او سمون په پار قواعد وضع کوي، البته نه د ځانګړو کلیمو لپاره، بلکې په ټولیزه توګه د ټولو کلیمو لپاره قواعد جوړوي؛ دا قواعد خاصې کلیمې په پام کې نلري. همدا ډول د جملې د جوړېدو لپاره قواعد وضع کوي، البته نه د ځانګړو مشخصو جملو لپاره. ښایي په لنډون ووایو چې ګرامر یوازې کوم خاص فاعل، یا کوم خاص مسند او نورو ته قواعد نه وضع کوي، بلکې په ټولیزه توګه ټولو جملو ته قواعد جوړوي، بی له دې چې د هغوې ځانګړې بڼې په پام کې ونیسي. نو ګرامر سره د دې چې له ځانګړو او خاصو کلیمو او جملو سره سروکار نلري، د کلیمو بدلون او سمون او په جملو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کلیمو ترکیبول او د ګرامري قواعدو او قوانینو پر بنسټ د دې جملو جوړول په مشترکه او اساسي ډول تر سره کوي.ګرامر د انساني مغز د تجریدي کړنو د پروسې اوږدمهال حاصل دی او د فکر تر ټولو حیرانونکی لاس ته راوړنه ګڼل کیږي.

د همدې پورتنې مسئلې په پام کې نیولو سره ګرامر، هندسه په ذهن کې تداعي کوي. هندسه هم د ځانګړو اشیاؤ له تجرید څخه خپل قواعد اخلي؛ نه له ځانګړو مشخصو اجسامو څخه. هندسه هم د اجسامو تر مینځ اړیکه د ځانګړو مشخصو اجسامو د اړیکې له مخې نه تعریفوي او پرته له دې چې د اجسامو ځانګړو مشخصاتو ته پام وکړي د اجسامو اړیکې په عمومي ډول په پام کې نیسي.

د مخبنا په خلاف، چې له تولید سره سیده اړیکه نلري او د اقتصاد له لارې خپله اړیکه ټینګوي؛ ژبه په مستقیمه توګه د انسان له تولیدي فعالیتونو او له استثنا پرته د انسانانو ټولو کاري فعالیتونو سره سیده اړیکه لري. د همدې لپاره د بدلونونو په وړاندې د ژبې قاموس حساس او له مداوم تغییر سره مخ دی.د مخبنا په خلاف، ژبه د بدلون لپاره د ببخبنا نابودی ته منتظره نه پاتې کیږي. د ژبې د لغتونو قاموس مخکې له دې چې ببخبنا نابوده شي، بدلون مومي او د ببخبنا له وضعیت سره کوم تړاو نلري.

خو د ژبې په لغتونو کې بدلون د مخبنا د بدلون په شان نه دی چې زاړه تري تم او نوي رامینځته شي، بلکې د نویو کلیمو د زیاتېدو له لارې د شته قاموس بډاینه ده، هغه نوي کلیمې چې د ټولنیز سیستم له بدلون سره، د تولید، فرهنګ، ساینس او نورو برخو له تکامل سره رامینځته کیږي. که څه هم یو شمېر له دوده لوېدلي لغتونه عموماً د ژبې له قاموس څخه وځي، خو په ورته وخت کې یو شمېر زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه ورزياتېږي. د ژبې د لغتونو اساسي زېرمه اساساً خوندي پاتې کيږي، چې د ژبې د لغتونو لپاره بنسټ ګرځي.

ښکاره ده چې د لغتونو د اساسي زېرمې ويجاړولو ته، چې د څو تاريخې پېرونو په بهير کې په موثر ډول تړې کار اخيستل شوی، هيڅ ډول اړتيا نشته. دا هم ښکاره ده، چې په لنډ وخت کې د لغتونو نوې بنسټيزې زېرمې جوړول ناشوني دي. د لغتونو د اساسي زېرمې، چې د څو پېړيو په بهير کې رامينځته شوي، نابودول به ژبه معلوله او د خلکو تر مينځ به راکړه ورکړه په بشپړه توګه ټکنۍ کړي.

د يوې ژبې د ګرامري سيستم بدلون، د ژبې د لغتونو د اساسي زېرمې له بدلون څخه ډېر پېځ وي. د ژبې ګرامري سيستم، چې په پېرونو کې جوړ شوی او د يوې ژبې هډ او وينه جوړوي، د ژبې د اساسي لغوي زېرمې په پرتله ډېر پېځ بدلون مومي. ښکاره ده، چې د وخت په تېرېدو سره د ژبې ګرامر هم بدلون مومي او لا بشپړېږي، خپل قواعد پياوړي کوي، لا يې مشخصوي او نوي قواعد خپلوي. خو له دې سره سره بيا هم د ګرامري سيستم بنسټونه د ډېرې مودې لپاره خوندي پاتې کيږي. ځرنګه چې تاريخ ښيي دا سيستم څو پېرونه کيږي چې د ټولنې لپاره په موثره توګه خدمت کوي. نو ويلی شوو چې ګرامري سيستم او اساسي لغوي زېرمه د يوې ژبې بنسټ او د ژبې ځانګړی کيفيت ښکاره کوي.

تاريخ په ډاګه کوي چې ژبې د هغه ادغام په وړاندې، چې د فشار له امله تر سره کيږي، ډېر ټيکاو ښکاره کوي او پياوړی او غښتلی مقاومت ځرګندوي.خو ځينې تاريخپوهان د دې پديدې د شننې پر ځای، يوازې د حيرانتيا په ځرګندونې بسنه کوي، خو د دې لپاره کومه اړتيا نشته. د ژبې د پايښت دليل، د هغه ګرامري جوړښت او د کليمو د اساسي زېرمو پايېدل دي. د تُرکيې هم شانته کوونکو په سلګونه کلونه هڅه وکړه چې د بالکانيانو ژبې وځپي، سپکې او نابودې يې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موده کې د بالکانیانو ژبو خورا زښت بدلون وموند. یو شمېر زیات ترکي لغتونه او اصطلاحات د بالکانیانو په ژبو کې وردننه شول، «یوځای کېدنې» او «جلا کېدنې» تر سره شوې، خو له دې سره سره بالکاني ژبې پاتې او مقاومت یې وکړ. ولې؟ ځکه چې د دې ژبو ګرامري جوړښت او د کلیمو اساسي زېرمې له بنسټه خوندي پاتې وی.

له دې څرګندېږي چې ژبه او د هغه جوړښت د یوه عصر محصول ګڼلی نشوو. ځکه د ژبې جوړښت، ګرامري جوړښت او د هغه د کلیمو اساسي زېرمه د څو عصرونو محصول دی.

کېدای شي داسې وانګېرو چې د معاصرې ژبې لومړنی او مقدماتي بنسټ د مرییتوب له پېر دمخه په لرغوني او ډېر زاړه پېر کې ایښودل شوی دی. دا ژبه هغه مهال له پېچلتیا تشه وه او د کلیمو قاموس یې ډېر ضعیف و، خو خپل ګرامري سیستم یې درلود؛ سمه ده چې دا سیستم لومړنی و، خو په هر حال یو ګرامري سیستم و.

د تولید لاپرمختګ، د طبقاتو پیدایښت، د خط او کتابت معرفي کېدل، د دولت راڅرګندېدنه، چې د اداري لپاره یې لږوډېر یوې منظمې مکاتبې ته اړتیا درلوده، د سوداګرۍ پراختیا، چې لا زیاتې منظمې مکاتبې ته اړه وه، د چاپ ماشین پیدایښت، د ادبیاتو پرمختګ؛ دا ټول د ژبې په تکامل کې د سترو بدلونونو لامل شول. په دې موده کې قبیلې او ملیتونه سره تجزیه شول، سره مخلوط شول، قطعه قطعه شول؛ وروسته بیا ملي ژبې او دولتونه رامینځته شول، انقلابونه تر سره شول او د زړو ټولنیزو سیستمونو ځای نویو سیستمونو ونېوه، چې دا ټول د ژبې او د هغه په تکامل کې د لازیاتو بدلونونو لامل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سره د دې دا به لويه ټېروتنه وي که فکر وکړو چې د ژبې تکامل د مخبنا د تکامل په شان تر سره شوی دی، يانې د نوي شي د جوړولو له لارې د هغه څه ورانول، چې لرو يې. واقعيت دا دی، چې د ژبې تکامل نه د شته ژبې د نابودېدو او نه هم د نوې ژبې د جوړولو له لارې، بلکې د شته ژبو د اصلي عنصرونو د پراختيا او بشپړتيا له لارې تر سره کيږي. د دې ترځنګه، له يوه حالت څخه بل حالت ته د ژبې لېږدېدل نه د انفجار له لارې تر سره کيږي، نه هم د زړې ژبې د ناڅاپي نابودېدنې او د نوې ژبې د جوړونې له لارې، بلکې د نوي کيفي عنصرونو او د نوي ژبني جوړښت د اوږدمهاله او تدريجي تراکم له لارې او د زاړه کيفی عناصرو د تدريجي نابودېدو په وسيله تر سره کيږي.

ويل کيږي چې د ژبې د پراويز تکامل تيوري يوه مارکسيستي تيوري ده، ځکه چې دا تيوري له زاړه کيفيت څخه يو نوي کيفيت ته د ژبې په لېږد کې، د ناڅاپه انفجار اړتيا يو شرط ګڼي. ښکاره ده چې دا خبره ناسمه ده او ستونزمنه ده چې په دې تيوری کې داسې يو څه دې پيدا کړای شوو، چې له مارکسيزم سره ورته والی ولري.

که د پراويز تکامل تيوري په ړښتيا د ژبې د تکامل په تاريخ کې ناڅاپه انفجارونو ته ارزښت ورکوي، نو د دې تيوري وضعيت د خواشينۍ وړ دی! مارکسيزم د ژبې د تکامل په بهير کې په ناڅاپو انفجارونو، د موجودې ژبې په ناڅاپه مرګ او د نوي ژبې پر ناڅاپه جوړېدو باور نلري.کله چې لافارګ په فرانسه کې «د ۱۷۸۹ او ۱۷۹۴ کلونو تر منځ د ژبې د ناڅاپه انقلاب څخه» غږېږي، نو سمه خبره نکوي. (د لافارګ «د فرانسې ژبه تر انقلاب وړاندې او وروسته» جزوه دې وليدل شي).په دغه وخت فرانسه کې هيڅ ډول ژبنيز انقلاب نه دې تر سره شوی، ناڅاپي خو لا پرېږدئ. دا سمه خبره ده چې په دغه پېر کې د فرانسوي ژبې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغتونو قاموس په نويو کليمو او اصطلاحاتو بډای شو، يو شمېر زړې کليمې حذف شوی او د ځينو کليمو مفهوم بدل شو. دا ټول هغه څه وو، چې تر سره شول. دا ډول بدلونونه په هيڅ توګه په دې مانا نه دي، چې د ژبې برخليک دې وټاکي. په ژبه کې مهمه موضوع د هغه ګرامري جوړښت او د کليمو اساسي زېرمه ده. خو د فرانسوي ژبې ګرامري سيستم او د کليمو اساسي زېرمه نه يوازې د فرانسې بورژوازي انقلاب په پېر کې نابود نشول، بلکې له مهمو بدلونونو پرته خوندي پاتې شول او نه يوازې خوندي پاتې شول، بلکې تر اوسه پورې هم د معاصرې فرانسوي ژبې برخې دي. مجبور يم دا خبره وکړم چې د شته ژبې د تري تم کولو او د نوي ملي ژبې د رامنځته کولو («د ناڅاپه ژبنې انقلاب») لپاره د پنځو او شپږو کلونو لنډه موده، ډېره مسخره ښکاري، د دې کار لپاره پېړيو ته اړتيا ده.

مارکسيزم په دې باور دی، چې له زاړه کيفيت څخه نوي ته د ژبې بدلون د يوه انفجار، د شته ژبې د نابودی او يا د نوې ژبې د رامينځته کيدو له لارې نه تر سره کيږي، بلکې د نوي کيفي عناصرو د تدريجي تراکم او د زاړه کيفي عناصرو د تدريجي مرګ له لارې تر سره کيږي.

د هغو ملګرو د معلوماتو لپاره، چې د انفجارونو لېوال دي، په ټولېزه توګه بايد وويل شي چې د انفجار د لارې له زاړه کيفيت څخه نوي کيفيت ته د بدلون قانون، نه يوازې چې د ژبو د تکامل د تاريخ په تړاو سم نه دی، بلکې د بېخبنا يا مخبنا د نورو ټولنيزو ښکارندو د ځانګړتيا په اړه هم تل صدق نکوي. دا قانون يوازې د هغه ټولنو لپاره لازمي مصداق مومي، چې په کې متخاصمې طبقې شتون ولري، خو د داسې ټولنو لپاره چې په کې متخاصمې طبقې شتون ونلري، په هيڅ ډول لازمي او حتمي نه ګڼل کېږي. مورږ له اتوو تر لسوو کلونو موده کې د هېواد کرهنيز سيستم له انفرادي بورژوايي ـ دهقاني سيستم څخه په سوسياليستي جمعي سيستم بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ. دا هغه انقلاب وو، چې په کلیوالو سیمو کې پخوانی بورژوازي اقتصادي سیستم یې له مینځه یووړ او نوی سوسیالیستي سیستم یې پر ځای جوړ کړ. خو دا انقلاب د چاودنې او انفجار له لارې، یعنې د شته حکومت د ړنګېدو او د نوي حکومت د جوړېدو له لارې پلي نشو، بلکې په کلیوالو سیمو کې له پخواني بورژوازي سیستم څخه نوي سیستم ته د تدریجي لېږدولو له لارې تر سره شو. دا کار شونی و، ځکه دا انقلاب له پاسه پیل شو او د شته ځواک د نوښت او د بزګرو پرګنو د ملاتړ له امله بري ته ورسید.

ویل کېږي چې په تاریخ کې د ژبې د امتزاج ګڼ شمېر پېښې د دې باور لامل شوی، چې د انفجار او ناڅاپی بدلون له لارې له زاړه کیفیت څخه نوي کیفیت ته، د امتزاج پر مهال یوه نوې ژبه رامینځته کېږي. خو دا باور ښځي غلط دی. ژبنی امتزاج نشو کولای د هغه پرېکندې ضربې یوه واحده اغېزه وګڼو، چې د څو کلونو په ترڅ کې پایلې ته رسېږي. ژبنی امتزاج هغه اوږدمهال بهیر دی چې سلګونه کاله دوام مومي. د دې لپاره دلته د انفجار اړو پوښتنه نه رامنځ ته کېږي.

دا باور هم ښځي غلط دی، چې فکر وکړو د ساري په توګه د دوو ژبو د امتزاج پایله یوه نوې ژبه، درېمګړې ژبه ده، چې له مرکبو ژبو سره هیڅ ورته والی نلري او په کیفي توګه له دواړو ژبو توپیر لري. حقیقت دا دی چې له ممزوجو ژبو، یوه ژبه بریالۍ راوځي، خپل ګرامري سیستم او اساسي لغوي زېرمه ساتي او د خپل تکامل له ذاتي قوانینو سره سم تکامل مومي. حال دا چې بله ژبه سوکه سوکه خپل کیفیت له لاسه ورکوي او په تدریجي توګه مري. د پایلې په توګه ویلی شوو چې د امتزاج نتیجه، نوې، دریم ګړې ژبه نه ده؛ یوه ژبه مقاومت کوي، خپل ګرامري سیستم او اساسي لغوي زېرمه ساتي او دا ځواک لري چې د خپل تکامل له ذاتي قوانینو سره سم تکامل وموميِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سمه خبره ده چې په دې بهير کې تر يوې کچې د بريالۍ ژبې لغوي فرهنګ او قاموس د مغلوبې ژبې په کليمو بډايه کيږي. دا کار ژبه نه يوازې نه کمزوروي، بلکې پياوړي کوي. د مثال په توګه له روسي ژبې سره ورته چلند شوی دی. د تاريخي تکامل په اوږدو کې، له روسي ژبې سره د نورو ملتونو ژبو امتزاج موندو، چې په پای کې روسي ژبه تل بريالۍ کېدله. البته، په دې بهير کې د روسي ژبې قاموس د نورو ژبو د کليمو په جذبولو سره لا بډايه کېده. دې کار نه يوازې دا چې روسي ژبه کمزورې نه کړه، بلکې لا شتمنه او پياوړې کړه.

که د روسي ژبې د ملي اصليت ځانګړنه په پام کې ونيسو، نو هيڅ زيان يې نه دی لېدلی، ځکه خپل ګرامري سيستم او د اساسي لغتونو زېرمه يې ساتلی او د خپل تکامل له ذاتي قوانينو سره يې سم تکامل او بشپړتيا ته ادامه ورکړې.

نو په دې کې شک نشته چې د امتزاج تيوري د شوروي ژبپوهنې لپاره ډېر لږ او يا هيڅ ډول ارزښت نلري. که دا خبره سمه وي چې د ژبپوهنې بنسټيزه دنده د ژبې د تکامل د ذاتي قوانينو مطالعه ده، نو بايد ومنو چې د امتزاج تيوري دا دنده نشي تر سره کولی، بشپړتيا يې خو لا پريږده! دا تيوري يا دې مسئلې ته پام نه کوي او يا وربانديې نه پوهېږي.

پوښتنه: آيا د ژبپوهنې د مسئلو په اړه په «پراودا» کې د ښکاره بحث پيلول سم و؟

ځواب: هو، سم و.

دا چې د ژبپوهنې د مسئلې حل به کومې خوا ته لاړ شي، د بحث په پای کې به روښانه شي. خو له اوسه ويلی شوو، چې بحث ډېر ګټور وو. دې بحث د ټولو دمخه دا روښانه کړه، چې د ژبپوهنې په ارګانونو، څه په مرکز او څه هم په جمهوريتونو کې، داسې رژيم واکمن دی چې له پوهې او پوهانو سره نه سازېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شوروي د ژبپوهنې د وضعیت په اړه کوچنۍ نیوکه، ان د ژبپوهنې په اصطلاح د «نوي دکترین» په تړاو د انتقادونو ډارځپلې هڅې، د ژبپوهنې د برلاسه کړیو د ربړولو سره مخ او نیوکو ته اجازه نه ورکول کېده.

د ن.ی.مار[۱۰] د میراث په وړاندې د انتقادي چلند او د هغه د ژبپوهنې له ښوونې سره د کوچنۍ نه هوکړې له امله؛ د ژبپوهنې ارزښتناک کارکوونکي او څېړونکي یا له دندو ګوښه کېدل یا یې رتبې ټیټېدلې. ژبپوهان نه د وړتیا له مخې، بلکې د ن. ی.مار د تیوري ګانو د کټ مټ منلو له وجې په لوړو دندو ګمارل کېدل.

مور باورمن یوو چې علم د اندونو له مبارزې او د نیوکې له آزادۍ پرته پرمختګ او وده نشي کولای. خو دا منل شوې قاعده په بشپړه بېغورۍ له پام غورځېده او سپکاوی یې کېده. یوه ډله رهبران راڅرګند شوي وو، چې ځانونه یې جایز الخطا نه ګڼل او د خپلسري قانون له مخې له هر ډول احتمالي نیوکې څخه یې ځانونه خوندي ساتلي وو. څه چې یې خوښېدل هماغه یې کول.

دلته به یې یوه بېلګه راوړم:په اصطلاح «د باکو درسونه»(په باکو کې د ن.ی.مار ویناوې) چې په خپله لیکوال رد کړي او د بیا خپرېدلو ممانعت یې کړی، د دې واکمنې کړۍ په دستور(چې ملګری مشچانینوف یې د ن.ی.مار «مریدان» ګڼي) بیا خپاره او له هیڅ ډول بیا کتنې پرته په ښوونیزو کتابونو کې درج شول. په دې مانا چې زده‌کړیالان یې دوکه کړي، رد شوي «درسونه» یې ورته د سمو درسونو په

---

[۱۰] نیکولای یاکوفلویچ مار(Nikolay Yakovlevich Marr) ګرجي ژبپوه و چې د ۱۸۶۴ نه تر ۱۹۳۴ یې ژوند کاوه. مار باور درلود چې لومړنۍ ژبه، چې نورو ژبو له هغه ریښه اخیستی، په حامی، سامی او یافثی درې کورنیو باندې تقسیمیږي. حام، سام او یافث د نوح زامن ول. مار ادعا لرله چې یافثي ژبه د ټولو ژبو مور ده. پښتو. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای تپر کړي دي. که ما د ملګري مشچانینوف او نورو مخورو ژېپوهانو په رښتینولي باور نه درلودی، نو دا کار مې یوه قصدي ویجاړونکي کړنه ګڼله.

دا کار ولې تر سره شو؟د دې لپاره تر سره شو چې تر ټولو مخکې د ژېپوهنې په برخه کې رامینځته شوی «آراکچیفي»[11] رژیم، چې غیرمسئولانه چلند یې دوداوه او خپل‌سریو کړنو ته یې لار خلاصوله بربنډ او درپې وړې کړ. د دې بحث ګټورتیا په دې پای ته نه رسیږي. دې بحث نه یوازې د ژېپوهنې په برخه کې پخوانی رژیم رنګ کړ، بلکې د علم په دې څانګه کې یې د ژېپوهنې د بنسټیزو پوښتنو په تړاو د دې واکمنې کړۍ د اندونو نه باوریدونکی مغشوشتیا یې هم راڅرګنده کړه. د بحث له پیلوني دمخه، د ن.ی.مار «مریدان» چپه خوله وو او د ژېپوهنې د ناسمه وضعیت په اړه یې څه نه ویل. خو د بحث له پیلولو سره، چې چوپتیا نوره ناشوني وه، اړ شول خپل نظریات په مطبوعاتو کې څرګند کړي. پوښتنه دا ده چې څه مو پیدا کړل؟ و مولیدل چې د ن.ی.مار په تعلیماتو کې یو لړ نیمګړتیاوې، تېروتنې، د ناسمه تعریفونو ستونزې او نیمګړي وړاندیزونه شته. پوښتنه راولاړیږي چې ولې د ن.ی.مار«مریدانو» په دې اړه یوازې اوس، چې بحث پیل شوی، خبرې پیل

---

[11] آراکچیفي رژیم: د آراکچیف زورواکه پولیسي او بې بندو باره دیکتاتوري وه، چې د ۱۹ مې پېړۍ په لومړۍ څلورمه کې په روسیه کې د زور، ظلم او بلوس ډکه واکمني درلوده.

آراکچیف د لومړي الکساندر پر مهال د جګړې وزیر او بیا وروسته د دولتي شورا د پوځي چارو د کمیټې رئیس شو. هغه لومړی الکساندر ته نژدی و. آراکچیف، چې د دهقاني پاڅونونو ځپوونکی و، د سپېڅلي اتحاد پر مهال د روسیې د ارتجاع او د خپلسره پولیسي حکومت سمبول ګڼل کېده.

ستالین دا اصطلاح دلته د شوروي د ژېپوهنې په کړیو کې د ن.ی.مار بې ساری واکمنتیا او د هغه د «مریدانو» د خپلسرۍ لپاره کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي؟ ولې يې مخکې دا کار نه کاوه؟ ولې يې په خپل وخت کې په ښکاره او صادقانه ډول، څنګه چې د پوهانو وړ ده، په دې اړه خبرې نه کوولې؟

د ن.ی.مار«مریدان»د نوموړي پر«ځینو» تېروتنو له اقرار وروسته داسې فکر کوي، چې د شوروي ژبپوهنه یوازې د ن.ی.مار د تیوري د «اصلاح شوي» نسخې پر بنسټ کولای شي تکامل وموميِ، هغه تیوري چې د هغوې په اند یوه مارکسیستي تیوري ده. مور د ن.ی.مار له داسې«مارکسیزم» تېر یوو! ن.ی.مار واقعاً غوښتل او په رښتیا یې هم هڅه کوله چې مارکسیست ووسي، خو ونه توانېد. هغه د«پرولیت کویتستانو»[۱۲]یا«رپیستانو»[۱۳]په څېر مارکسیزم یوازې شړلوي او مبتذلوي.

ن.ی.مار په ژبپوهنه کې هغه ناسم او غیرمارکسیستي فورمول دننه کړ، چې له مخه یې ژبه مخبنا ګنډل کیږي، په دې سره یې هم ځان سرسام کړ او هم یې ژبپوهنه ګډوډه کړه. د شوروي ژبپوهنه د غلط فورمول پر بنسټ تکامل نه مومي. همدا ډول ن.ی.مار په ژبپوهنه کې یو بل ناسم او غیرمارکسیستي فورمول دننه کړ، چې د ژبې«طبقاتي ځانګړتیا» ده، چې په دې سره یې بیا ځان سرسام او ژبپوهنه لا ګډوډه کړه.د شوروي ژبپوهنه د داسې ناسمو فورمولونو پر بنسټ، چې د خلکو او ژبو له ټول تاریخي بهیر سره په مخالفت کې واقع کیږي، تکامل نشي کولای.

---

[۱۲] د «پرولتارسکایاکونتورا» مخفف، چې مانا یې پرولتاریایي فرهنګ دی.

[۱۳] د روسیې د لیکوالانو پرولتاریاییاتحادیه. دا دواړه هغه بنسټونه ول، چې د «نږه پرولتاریي» مکتب تر نامه لاندې یې د ادبیاتو او هنر په برخه کې غلط او ناسم مفاهیم رامینځته کول. د اندونو یوه ځانګړنه یې دا وه چې تېر شتمن میراث ته یې پاملرنه نه درلوده. لومړنۍ تر دېرشم کال او دویمه یې د شوروي د لیکوالانو د ټولنې تر جوړېدو (۱۹۳۴)پورې موجود وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ن.ی.مار ژبپوهنې ته داسې ګستاخانه، ډوزمارانه او متکبرانه ګړ وروپېژند، چې له مارکسیزم سره پردی دی. دا ګړ د ټولو هغو شیانو د بی بنسټه او پیکه ردیدو لامل کیږي، چې له ن.ی.مار وړاندی په ژبپوهنه کې تر سره شوي دي.

ن.ی.مار پر مقایسوي ـ تاریخي میتود باندې د «ایده الیستي» میتود په توګه په کلکه د بطلان کړنه کاږي. حال دا چې مقایسوي ـ تاریخي میتود د ځینو مهمو نیمګړتیاوو سره سره، بیا هم د ن.ی.مار له څلور عنصریزه[۱۴] واقعاً ایدهالیستي شننې څخه ډېر ښه دی؛ ځکه چې لومړنی میتود د کار کولو د هڅونې او د ژبو د مطالعې زمینه برابروي، حال دا چې دویم میتود یوازې انسان هڅوي چې پر بازوداره ټوکی خوروور پرېوزي او د څلورو مشهورو عنصرونو د قهوې په پیاله کې فال ونیسي.

ن.ی مار د«اصلي ژبې»[۱۵]د تیوري د روښانېدو تر نامه لاندې، په مغرورتیا د شته ژبو د ګروپونو(ځېل)د مطالعې په پار هر ډول کوښښ بېارزښته ګڼي. خو د ملتونو

---

[۱۴] څلور عنصریزه شننه:ن.ی.مار ادعا کوله چې د انسان د لومړنۍ ژبې تلفظ له څلورو سیلابونو تکامل کړی دی: sal، ber، yon او rosh.

[۱۵] د «اصلي ژبې» تئوري:د هندو اروپایي مکتب دکترین باور لري، چې ژبدلې په ځان کې د هغو سیمه ایزه ګړدودونو(لهجې)یوه ډله رانغښتی، چې له عامې لرغوني «اصلي ژبې» جلا شوي دي. د ساري په توګه، عصري ایټالیوي، فرانسوي، اسپانیوي، پرتګالي او رومانیایي ژبې، هغه خویندې ژبې دي، چې له لاتین څخه مشتق شوي دي، خو په اصل کې دا ژبې یوازې بېلابېل ګړدودونه دي. سره له دې چې هیڅ ډول مستند شواهد نشته، چې د اکثرو ګړدودونو یا ژبو د«اصلي ژبې» شتون وښیي، خو د هندو اروپایي عالمانو د «اصلي ژبې» فرضیه راخیستی، چې عمده موخه یې د فونتیک(اصواتو) د بدلېدو د قاعدې د تشریح آسانتیا ده. هیڅ داسې لاره چاره نشته، چې د دې فرضیې د حقیقت کچه معلومه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبو تر مینځ د خیښۍ انکار ناشونی دی، د بېلګې په توګه د اسلاو ملتونو د ژبې خیښي اډو پوښتنه نه راولاړوي. د دې ملتونو د ژبنیزې خیښۍ مطالعه به د ژبې د تکامل د قانون د مطالعې او ژېپوهنې په برخه کې ډېر ارزښتناکه تمام شي. باید ووایم چې د «اصلي ژبې» تیوري، اډو له دې موضوع سره کوم تړاو نلري.

که چیرې ن.ی.مار او په ځانګړي توګه د هغه«مریدانو»ته غوږ شو، ښایي داسې ګمان وکړو، چې له ن.ی.مار وړاندې ژېپوهنې شتون نه درلود او ژېپوهنه د نوموړي له«نوي دکترین»سره راڅرګنده شوې ده.په رښتیا چې مارکس او انګلس زښت متواضع انسانان وو، هغوې به ویل چې دیالکتیک ماتریالیزم یې، د علم او د تېرو پېرونو په ګډون د فلسفې د پرمختګ محصول دی.

نو دې پایلې ته رسیږو چې دا بحث د دې لپاره ګټور و چې د شوروي په ژېپوهنه کې ایډئولوژیکې نیمګړتیاوې راوسپړي.

فکر کوم که د شوروي ژېپوهنه هر څومره ژر ځان د ن.ی.مار له تېروتنو خلاص کړي، هغومره به له اوسني کړکېچ څخه د ژغورنې شونتیا ولري.

زما په اند په ژېپوهنه کې د آراکچیفي رژیم نابودول، د ن.ی.مار د تېروتنو ردول او په ژېپوهنه کې د مارکسیزم دودول، هغه لاره ده چې د شوروي ژېپوهنه بډاینې ته رسوي.

پراودا، ۲۰ جون ۱۹۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبپوهنې د ځینو مسئلو په اړه

ملګري اي. کراشنینیکوا ته ځواب

ملګری کراشنینیکوا،

پوښتنو ته مو دلته ځوابونه وایم:

۱.پوښتنه:ستاسو مقاله په سمه څرګندوي، چې ژبه نه بېخبنا ده او نه مخبنا. آیا دا به سمه وي چې ژبه داسې یوه ښکارنده (پدیده) وګڼو، چې هم د بېخبنا او هم د مخبنا ځانګړتیاوې لري؟یا سمه به دا وي چې ژبه د دواړو تر مینځ د یوې منځګړي ښکارندې په توګه وشمېرل شي؟

ځواب:ښکاره ده چې ژبه د ټولنیزې ښکارندې په توګه هغه عمومي کیفیت لري چې د بېخبنا او مخبنا په ګډون، د ټولو ټولنیزو ښکارندو لپاره ذاتي کیفیت ګڼل کیږي:ژبه د ټولنې په چوپړ کې ده، څرنګه چې د بېخبنا او مخبنا په ګډون، ټولې ټولنیزې ښکارندې د ټولنې په چوپړ کې دي.که سم ځیر شوو نو و به ګورو چې د ټولنیزو ښکارندو دا ګڼ کیفیت همدلته پای ته رسیږي. له دې ګڼ کیفیت پرته، د ټولنیزو ښکارندو تر مینځ خورا مهم توپیرونه پیلېږي.

موضوع دا ده چې ټولنیزې ښکارندې له دې ګډې ځانګړتیا سربېره خپل ځانګړي خصوصیتونه هم لري چې هغوې له یو بل څخه بېلوي.همدا ځانګړي خصوصیتونه دي چې علم ته زیات اهمیت لري.د بېخبنا ځانګړی خصوصیت، ټولنې ته له اقتصادي پلوه خدمت دی، خو د مخبنا ځانګړي خصوصیتونه په سیاسي، قانوني، ښکلاپیژندنې او په فکري برخو کې ټولنې ته خدمت کول او تر څنګ یې د یوې ټولنې لپاره د متناسب سیاسي، قانوني او نورو اړوندو بنسټونو برابرول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د ژبې خاصې ځانګړتياوې چې له نورو ټولنيزو ښکارندو يې بېلوي، کومې دي؟ دا دي:د خلکو تر مينځ د اړيکو وسيله، په ټولنې که د اندونو د مبادلې وسيله، د متقابلې پوهاوې وسيله او د انساني فعاليتونو په ټولو برخو کې، که توليدي اړيکي وي او که اقتصادي، که سياسي برخې وي او که فرهنګي، که ټولنيز ژوند وي او که خصوصي؛ د ګډ کار د سمبالنې له لارې ټولنې ته خدمت.

دا ځانګړتياوې يوازې په ژبې پورې اړوندې دي او د همدې ځانګړې خصوصيتونه له کبله ژبه د يو خپلواک علم په توګه د مطالعې موضوع ده، چې ژبپوهنه ورته وايي.که ژبه دا خاصې ځانګړتياوې ونلري، نو ژبپوهنه د يو خپلواک علم حق له لاسه ورکوي.

لنډه دا چې ژبه نه د بېخبناوو په ډله کې راځي او نه هم د مخبناوو په ډله کې. همدا ډول نشو کولای ژبه د بېخبنا او مخبنا تر مينځ يوه «مينځګړې» ښکارنده وګڼو، ځکه دا ډول «مينځګړې» ښکارنده شتون نلري.

خو شايد وکړای شوو ژبه د توليدي ځواک په ډله کې، يا په بله وينا د توليدی افزارو په ډله کې راولوو؟ واقعاً د ژبې او توليدي افزارو تر مينځ تر يو حده پورې ورته والی شته: توليدي افزار د ژبې په شان د طبقاتو په وړاندې بی پرې عمل کوي او د بېلابېلو طبقاتو، د ټولنې د زړو او نويو طبقاتو لپاره په يو ډول کارېدلې شي. خو آيا حق لرو چې ژبه د توليدی افزارو په کتار کې راولو؟ نه، دا کار نشو کولای.

يو وخت ن.ی.مار وروسته له دې چې متوجې شو چې دې فورمول يې، چې «ژبه د بېخبنا پر بنسټ يوه مخبنا ده» مخالفتونه پارولي، نو د دې فورمول د بدلولو تابيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وکړه او ويې ويل:«ژبه د توليد يو افزار دی». آيا مار حق درلود چې ژبه د توليد د افزارو په کتار کې راولي؟ ښکاره ده چې نه.

موضوع دا ده چې د ژبې او توليدي افزارو تر مينځ ورته والی يوازې د هماغه ورته والي سره، چې ما يې يادونه وکړه، پای مومي. خو بلې خوا ته د ژبې او د توليدي افزارو تر مينځ بنسټيز توپير موجود دی. دا توپير په دې کې دي چې توليدي افزار مادي ثروت توليدوي، حال دا چې ژبه څه نه توليدوي او يوازينی څه چې «توليدوي» هغه کليمې دي. په ساده ټکو کې بايد ووايو چې خلک د توليدي افزارو له تملک سره مادي ثروت توليدوي؛ حال دا چې هماغه خلک، که چيرې د توليدي افزارو په ځای ژبه په تملک کې ولري، مادي ثروت توليدولی نشي.که ژبه د مادي ثروت په توليد توانېده نو يو کړتن به د نړۍ تر ټولو شتمن انسان وی؛ په دې پوهېدل سخته خبره نه ده!

۲.پوښتنه:مارکس او انګلس ژبه د «فکر مستقيم واقعيت»، د «عملي. . . حقيقي فهم» په توګه تعريف کړی ده[۱۶].مارکس وايي «مفکوره» «له ژبې پرته شتون لرلی نشي».ستاسو په باور ژېپوهنه تر کومې کچې پورې ښايي د ژبې له مانايي اړخ، سمانتيک(ماناپوهنې)، تاريخي سماسيولوجي او سبک پوهنې سره ځان بوخته وساتي؛ يا يوازې موخه يې بايد پر بنې متمرکزه وي؟

ځواب:ماناپوهنه(سماسيولوجي)د ژېپوهنې يوه مهمه څانګه ده. د کليمو او اصطلاحاتو د ماناپوهنې اړخ د ژبې په مطالعې کې خورا اهميت لري. د همدې لپاره ښايي په ژېپوهنې کې ماناپوهنه (سماسيولوجي) خپل اړين ځای ولري.

---

[۱۶] کارل مارکس او فردريش انګلس، آثار، آلماني نسخه، برلين، ۱۹۵۸، دريم ټوک، مخونه ۴۳۰ او ۴۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو له دې سره سره، د ماناپوهنې د مسئلو د طرح کولو او د مفروضاتو د کارونې پر مهال يې مهمه ده، چې په اړه يې اغراق ونشي او په ناوړه توګه ترې کار وانخيستل شي. زما موخه ځينې هغه کليمه پيژندونکي دي چې له ماناپوهنې سره افراطي لېوالتيا لري، بې له دې چې پام وکړي، ژبه د«فکر مستقيم واقعيت» دی او له فکر سره نه بېلدونکی تړاو لري. دا کسان ژبه له فکر جلا کوي او باور لري چې د ژبې عمر تېربېږي او شونتيا شته چې بی له ژبې هم ژوند وشي.

د ن.ی.مار دې کليمو ته پام وکړئ:

> «ژبه يوازې له دې کبله شتون لري چې په اوازونو کې راڅرګندېږي؛ د تفکر عمل هم بی له دې چې څرګند شي، تر سره کيږي...ژبې(وينايي)وروستيو اختراعاتو ته د خپلې دندې سپارنه پيل کړی او دا اختراعات بې له شکه ټول ميدان نيسي. حال دا چې تفکر د غوړيدو په حال کې دی او له تېر بی ګټې تراکم څخه نوې کارونې ته يون کوي، ژبه له ډګر باسي او ځای ورته په بشپړه توګه نيسي. تفکر راتلونکی ژبه ده چې له طبيعي تخنيک او طريقې جلا، په آزادانه توګه تکامل مومي. هيڅ ژبه، ان وينايي ژبه چې د طبيعت له معيارونو سره په ورته توګه ترل شوی،د تفکر په وړاندې د مقاومت توان لرلی نشي.» (د ن.ی.مار منتخب آثار دې وليدل شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دا د «جادوګرانه ـ کونښښ»[۱۷] اپلټې په بشري عادي ژبه وژباړو، پایله یې دا ده:

الف) ن.ی.مار، تفکر له ژبې جلا کوي؛

ب) ن.ی.مار عقیده لري چې خلک بی له ژبې د تفکر په مرسته هم کولای شي د یو بل په خبره پوه شي، هغه تفکر چې د ژبې له «طبیعې جوهر» او «طبیعي معیارونو» څخه آزاد دی؛

ج) له ژبې څخه د تفکر جلا کول او ژبه له «طبیعي جوهر» «خلاصول»؛ ن.ی. مار په ایډه الیستي ډنډ کې ډوبوي.

ویل کیږي افکار مخکې له دې چې د خبرو په بڼه راڅرګند شي د انسان په ماغزو کې ګرځي؛ له ژبني موادو پرته رامینځته کیږي او پرته له دې چې ژبنی پوښښ ولري په اصطلاح په بربنډ ډول رامینځته کیږي.خو دا بېخي غلطه ده.کله چې افکار د انسان په مغزو کې رامینځته کیږي او هره شېبه چې رامینځته کیږي، یوازې د ژبني موادو پر بنسټ رامینځته کیږي او موجودیت پیدا کوي. افکار د ژبې د اصطلاحاتو او عباراتو پر اساس رامینځته کیږي.

بربنډ افکار، له ژبني موادو او له «طبیعي جوهر» آزاد افکار شتون نلري. ځنګه چې مارکس ویلي چې «ژبه د فکر مستقیم واقعیت دی» نو د فکر واقعیت په ژبه کې راڅرګندیږي. یوازې ایډه‌الیستان ویلی شي چې فکر د ژبې له «طبیعي جوهر» سره تړاو نلري او تفکر د خپل واقعیت لپاره ژبې ته اړتیا نلري.

---

[۱۷] ن. ی. مار باور درلود چې معمولي (وینایي) ژبه د خپل پیدایښت په لومړیو کې د جادوګرۍ وسیله او د غیب ویونکو جادوګرو په لاس کې وه. دا اصطلاح د مار له آثارو نقل شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې په سمانتیک(ماناپوهنه)کې اغراق او ناسمه کارونه، ایډه‌الیزم ته د ن.ی.مار د لېرد لامل شو. نو دې پایلې ته رسېږو که سمانتیک(سماسیولوجي) له هغه ډول اغراق او ناسمې کارونې څخه وساتل شي. چې ن.ی.مار او د هغه ځینې «مریدان» یې تر سره کوي، د ژبپوهنې لپاره خورا ګټور تمامیداې شي.

۳.پوښتنه:تاسوکاملاً سم وایی چې د بورژوازي او پرولتاریا افکار، مفاهیم، عادتونه او اخلاقي آرونه له یو بل سره مستقیماً متضاد دي.د دې ښکارندو طبقاتي ځانګړتیا ښکاره ده چې د ژبې په سمانتیک اړخ(او ځینې وختونه د ژبې پر شکل ـ د کلیمو پر زېرمې ـ څرنګه چې په مقاله کې مو ورته په سمه توګه اشاره شوی)اغېزه کوي. آیا کولای شوو د ژبپوهنې د خاصو موادو او په سر کې د ژبې د سمانتیک اړخ د شننې پر مهال د هغو مفاهیمو له طبقاتي منځپانګې خبرې وکړو چې د ژبې په وسیله څرګندېږي؟په تېره بیا په هغو مواردو کې چې ژبه نه یوازې د انساني افکارو د څرګندونې لپاره کارول کېږي، بلکې په ورته وخت کې د واقعیت په اړه د انسان چلند هم ښکاره کوي، هغه چلند چې په کې د انسان طبقاتي پیوستون او نږدې والی په ښکاره توګه څرګندېږي؟

ځواب:که دا خبره یو څه لنډه کړو، نو غواړئ پوه شئ چې آیا طبقات پر ژبه اغېز لري؟ آیا هغوې خپلې ځانګړي کلیمې او اصطلاحات ژبې ته معرفي کوي؟ آیا داسې ښلګې شته چې د خپل طبقاتي تړاو له مخې دې خلک یوې ټاکلې کلیمې او یا اصطلاح ته ښلابښلې ماناګانې وکاروي؟

هو طبقات پر ژبه اغېز کوي، خپلې ځانګړې کلیمې او اصطلاحات ژبې ته دننه کوي او کله هم له یوې او ورته کلیمې او اصطلاح ښلابښلې ماناګانې اخیستل کېږي. په دې کې شک نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ځانګړې کلیمې او اصطلاحات او همدا ډول په سمانتیک کې توپیر د ټولو خلکو لپاره د عامې واحدې ژبې د تکامل په برخه کې جدي اهمیت لرلی نشي او دا کلیمې او اصطلاحات نشي کولای د ژبې اهمیت کم او ځانګړتیا یې وربدله کړي.

ځکه چې:

لومړی، دا ډول ځانګړې کلیمې او اصطلاحات او د سمانتیک توپیروالی په یوه ژبه کې ډېر کم دی، چې په سختۍ د یوې ژبې ټولټال یوه سلنه جوړوي. نو ویلی شو چې نژدې ټولې کلیمې او اصطلاحات او همدا ډول سمانتیک یې د یوې ټولنې ټولو طبقو لپاره عام دی.

دوېم، ځانګړې کلیمې او اصطلاحات چې یوځه طبقاتي رنګ لري، له کوم «طبقاتي»ګرامري قاعدې سره(چې البته شتون نلري) په خبرو کې نه کارول کیږي، بلکې د عامې ژبې د ګرامري قاعدې مطابق کارول کیږي.

نو د همدې لپاره د خاصو کلیمو او اصطلاحاتو شتون او د ژبې په سمانتیک کې د توپیر واقعیت، نه یوازې دا چې د عامې واحدې ژبې شتون او اړتیا نه ردوي، بلکې دا اړتیا تاییدوي.

۴.پوښتنه:تاسو په خپله مقاله کې په سمه توګه، مار د مارکسیزم مبتذل کوونکی ګڼلی دی.آیا دا په دې مانا ده چې ژبپوهان، زمور په ګډون ځوان ژبپوهان، باید د مار د ژبپوهنې ټول میراث رد کړي؛ د هغه چا میراث، چې د ژبپوهنې په برخه کې د ډېرو ارزښتمنو څېړنو ویاړلري؟ (کله چې بحث پیل شو، ملګرو چیکوباوا، سانژیف او نورو په دې اړه لیکنې کړي دي).آیا له مار سره د انتقادي چلند له امله نشو کولای هغه څه چې ګټور او ارزښتمن دي، تري واېښلو؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: ښکاره ده چې د ن.ی.مار په آثارو کې یوازې تېروتنې نشته، خو کله چې هغه په ژېپوهنه کې د مارکسیزم عناصر په تحریفي ډول وکارول، کله چې هغه کوښښ وکړ د ژبې یوه خپلواکه تئوري وړاندې کړي، نو ډېرې سترې تېروتنې یې وکړی.خو ن.ی.مار یو شمېر ښه، ګټور او پاخه لیکلي آثار هم لري، چې په هغو کې یې خپله تئوریکه ادعا هېره کړی او بېلابېلې ژبې یې په منصفانه، او باید ووایو په استادانه ډول تر شننې لاندې نیولي دي. په دې آثارو کې کولای شوو داسې ډېر شمېر شیان پیدا کړو چې ارزښتناک او ښوونیز دي. ښکاره ده چې دا ارزښتمن او ښوونیز شیان باید د ن.ی.مار له آثارو واخیستل شي او وکارول شي.

۵.پوښتنه: ډېر شمېر ژېپوهان، فورمالیزم د شوروي ژېپوهنې د غړنتیا له عمده لاملونو یو لامل ګڼي. ډېر لېوال یوو چې ستاسو په نظر په شوو چې په ژېپوهنې کې فورمالیزم څه ته وایي او څنګه کولای شوو وربانديې برلاسي شوو؟

ځواب:ن.ی.مار او «مریدان» یې هغه ژېپوهان چې د نوموړي «نوی دکترین» نه مني، په «فورمالیزم» تورنوي. ښکاره ده چې دا تور بی بنسټه او نامعقول دی.

ن.ی.مار ګرامر یوه تشه «فورمالیته» ګڼي او هغو کسانو ته چې ګرامري سیستم د ژبې بنسټ ګڼي فورمالیستان وایي، چې دا کاملاً احمقانه ده.

فکر کوم «فورمالیزم» د «نوي دکترین» د لیکوالانو لخوا اختراع شوی، چې په ژېپوهنې کې د مخالفینو په وړاندې خپله مبارزه اسانه کړي.

د شوروي د ژېپوهنې د غړنتیا لامل د ن.ی.مار او د هغه د «مریدانو» لخوا اختراع شوی «فورمالیزم» نه، بلکې په ژېپوهنه کې آراکچیفي رژیم او تئوریکی نیمګړتیاوې دي. آراکچیفی رژیم د ن.ی.مار د «مریدانو» لخوا رامینځته شو. په ژېپوهنه کې تئوریکه سرګرداني د ن.ی.مار او د هغه د نژدې همکارانو لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامینځته شوه. د دې غړندتیا پای ته رسولو لپاره آراکچیفي رژیم او تئوریکه سرګرداني باید له مینځه لاړه شي. د دې طاعوني ټپونو لېرې کول به د شوروي ژبپوهنه ورغوي، سمې لارې ته به یې برابره او د شوروي ژبپوهنه به قادره کړي چې د نړۍ په ژبپوهنې کې لومړی ځای خپل کړي.

۲۹ جون ۱۹۵۰

(پراودا، ۴ جولای ۱۹۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو ته ځوابونه

ملګري سانژيف ته

ښاغلی ملګريه سانژيفه،

ليک ته مو ځکه له ډېر ځنډ وروسته ځواب وايم، چې همدا پرون يې د مرکزي کميټې له سيستم څخه ما ته راولېږه. بې له شکه د ګړدودونو په اړه زما دريځ دې سم تفسير کړی دی.«طبقاتي» ګړدودونه، ښه به وي چې ځانګړې کليمې او اصطلاحات ونومول شي، د پرګنو لخوا نه کارول کيږي، بلکې د ټولنې پورتنی کوچنی قشر تريې استفاده کوي. سربېره پر دې دا ډول ګړدودونه خپل ګرامري سيستم او د کليمو بنسټيزه زېرمه نلري، نو خپلواکو ژبو ته بدلېدلې نشي.

خو بل اړخ ته سيمه ايزه («محلي») ګړدودونه د پرګنو لخوا کارول کيږي او خپل ګرامري سيستم او د ځانګړو کليمو بنسټيزه زېرمه لري. له دې کبله ځينې سيمه ايزه ګړدودنه د ملتونو د جوړېدو په بهير کې دا شونتيا مومي چې ملي ژبو ته بنسټ چمتو کړي او خپلواکو ملي ژبو ته تکامل وکړي. د ښلګې په توګه د روسي ژبې د کورسک ـ اورېل ګړدود (کورسک ـ اورېل «خبرې») چې د روسي ملي ژبې پيلامه يې جوړه کړه. دا خبره د اوکرائيني ژبې د پولتاوا ـ کيف ګړود په اړه هم سمه ده، چې د اوکرائنيي ملي ژبې لپاره يې بنسټ جوړ کړ. خو د دې ژبو نورو ګړدودونو خپله اصيلتيا ورکه او د دغو ژبو سره يوځای او په هغوې کې ورک شول.

معکوس بهير هم رامينځته کيږي، کله چې يو مليت د اقتصادي پرمختګ د اړينو شرايطو د نشتون له امله په ملت نه بدلېږي او د دغه مليت واحده ژبه په دولت کې د مليت د نه ادغام له امله له مينځه ځي. خو سيمه ايزه ګړدودنه، چې لا يې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دی پیدا کړی چې په واحده ژبه کې په بشپړه توګه ګډ شي، بیا راڅوندی کیږي او د جلا خپلواکو ژبو د جوړېدو پیلامه جوړوي. ممکن، دا بېلګه د ساري په توګه د منګولیایي واحدې ژبې په اړه سمه وي.

۱۱جولای ۱۹۵۰

پراودا، ۲ اګست ۱۹۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو د. بلکين او س. فورر ته

ستاسو ليکونه مې تر لاسه کړل.

تېروتنه مو په دې کې ده، چې تاسې دوه بېلابېلې موضوعګانې سره ګډې کړې او ملګري کراشنينيکوا ته زما د ځواب د بحث موضوع مو له بلې موضوع سره بدله کړې ده.

۱. ما په خپل ځواب کې پر ن.ی.مار، چې د ژبې (ويناييې) او فکر په موضوع کې، ژبه له فکر جلا کوي او په دې ډول ايډيالېزم ته ولېږي، نيوکه کړې وه.ما د همدې لپاره د هغو نورمالو انسانانو يادونه کړې چې د خبرو فکري استعداد لري. زه لا ډېر باوري شوی يم، چې د دې شان انسانانو تفکر يوازې د ژبني موادو په اساس رامينځته کېږي. هغه لغړ فکر، چې له ژبني موادو سره تړاو نلري، د هغو خلکو په مينځ کې شتون نلري چې د خبرو فکري استعداد لري.

تاسې د دې په ځای چې دا تز ومنئ او يا يې رد کړئ، هغو غيرنورمالو انسانانو ته اشاره کوئ، چې بې ژبې، کانې او ګونګيان دي او د خبرو لپاره ژبه په اختيار کې نلري. نو ښکاره ده، چې د هغوې فکر د ژبني موادو پر بنسټ نه رامينځته کېږي. ځنګه چې ګورئ دا موضوع بېخي بله موضوع ده او ما تر بحث لاندې نيولی نه ده او نيولی يې هم نشم، ځکه ژبپوهنه له هغو عادي انسانانو سره تړاو لري، چې د خبرو استعداد لري، نه له هغو غير عادي کانو ـ ګونګيانو سره چې د خبرو کولو استعداد ونلري.

تاسې د بحث موضوع له يو بل مطلب سره، چې زمور د بحث موضوع نه ده، بدله کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.د ملګري بلکين له ليک څخه څرګندېږي، چې هغه د «الفاظو ژبه»(وينايي ژبه) د «حرکتونو او اشارو ژبې»(د مار په اصطلاح«لاسي» ژبې)سره برابره ګڼي. داسې ښکاري چې د هغه په فکر د حرکتونو او اشارو ژبه او د الفاظو ژبه يو ډول اهميت لري او کله چې انساني ټولنو د الفاظو ژبه نه درلوده، «لاسي» ژبې د الفاظو د ژبې پر ځای، چې وروسته رامينځته شوه، کارېدله.

که ملګری بلکين په رښتيا دا ډول فکر کوي، نو لويه تېروتنه کوي. وينايي ژبه يا د الفاظو ژبه د بشري ټولنې هغه يوازينۍ ژبه ده چې کولای شي د خلکو د اړيکو د مناسبې وسيلې په توګه تل کارنده ووسي.تاريخ داسې انساني ټولنه، ان ډېره وروسته پاتې ټولنه نه پيژني چې خپله ځانګړی وينايي ژبه ونلري. توکمپيژندنه (ايتنوګرافي) داسې يو وروسته پاتې قوم نه پيژني چې خپله وينايي ژبې يې نه وي درلودلې، که په تيرې پېړۍ کې د استراليايانو او يا د تييرا دل فيګو[۱۸] په څېر زاړه او ان ډېر لرغوني قومونه هم وي.د بشريت په تاريخ کې وينايي ژبه يو له هغو ځواکونو څخه وه چې له انسانانو سره يې مرسته وکړه چې د ژويو له نړۍ ببل، په ټولنو کې سره راټول او خپل د تفکر استعداد پرمختللی او ټولنيز توليد تنظيم کړي، د طبيعي ځواکونو په وړاندې بريالې مبارزه مخ ته بوځي او ننني پرمختګ ته ورسيږي.

د همدې لپاره په اصطلاح د حرکتونو او اشارو ژبه، چې ضعيفه او محدوديتونه يې زيات دي، د غږېدو وړ نه ده. دا اصلاً کومه ژبه نه ده، ان د ژبې ځاينا‌ستی يې

---

[۱۸] تييرا دل فيګو په لاتينه امريکې کې پرته سيمه ده، چې اوس د ارجانتين او چيلي تر مينځ ويشلی شوی ده. دا سيمه، چې د «اور ځمکې» په نامه يادېږي يو له هغه لرغونو سيمو ده، چې تر ټولو پخوانيو انسانانو په کې ژوند درلود ـ پښتو. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډلی نشوو، چې په یو ډول نه یو ډول د ویناییِ ژبې پر ځای وکارول شي. د حرکتونو او اشارو ژبه، که څه هم ډېر زیات محدود امکانات لري، خو د یوې مرستندویه وسیلې په توګه یې انسان کله ناکله د خپلو خبرو پر دغه یا هغه ټکي د ټینګار په موخه کاروي. څرنګه چې ساده لرګین رمبی د یو پرمختللي پنځه‌پال ځنځیري تراکتور یا د تخم شیندنې تراکتور سره پرتله کیدای نشي، همدا ډول د حرکتونو او اشارو ژبه له ویناییِ ژبې سره د پرتلې وړ نه ده.

۳. داسې ښکاري چې تاسې لومړی له کنې ـ ګونګیانو سره لېوالتیا لرئ، بیا د ژبپوهنې له مسئلو سره. داسې برېښي چې دقیقاً همدې وضعیت هڅولی یې، چې یو لړ پوښتنې له ما وکړې. ښه خبره ده، که تاسې ټینګار کوئ، زه ستاسې د هیلې د پوره کېدو مخالف نه یم.

د کنې ـ ګونګیانو موضوع څه ده؟ آیا دوې د فکر کولو استعداد لري؟ آیا کولای شي افکار وزېرووي؟ هو، هغوې د فکر کولو استعداد لري او د هغوې په مغزو کې افکار رامینځته کیږي. ښکاره ده، له هغه ځایه چې کاڼه ـ ګونګیان د خبرو له استعداده بې برخې دي، د هغوې فکر د ژبني موادو پربنسټ نه زېرول کیږي. آیا دا موضوع نه ښکاره کوي چې د کنې ـ ګونګیانو افکار بربنډ دي او(د مار په اصطلاح) له «طبیعي معیارونو» سره تړاو نلري؟ نه، داسې نه ده. د کنې ـ ګونګیانو افکار یوازې د هغو انځورونو، احساساتو او تصوراتو پر بنسټ راڅرګندېږي او شتون لري، چې په ورځني ژوند کې د بهرنۍ نړۍ د اشیاو او د هغوې تر مینځ د اړیکو له لارې د دوې په افکارو کې رامینځته کیږي. ښایي د باصرې، لامسې، ذائقې او شامې حواسو منندوی ووسو. افکار له دې انځورونو، احساساتو او تصوراتو پرته، تش او له محتوای محرومه او د همدې لپاره شتون نلري.

۲۲ جولای ۱۹۵۰(پراودا،۲ اګست۱۹۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري ا. خولوپف ته

لیک دې راورسېده.

د زیاتې بوختیا له امله په ځواب لیکنې کې وځنډېدم. لیک دې په ضمني ډول له دوو فرضونو سره ادامه مومي: لومړی فرض دا دی چې کولای شوو د دې یا هغه لیکوال له آثارو خبره نقل کړو، بی له دې چې په پام کې ونیسو چې دا خبره له کوم تاریخي پېر سره اړیکه لري. دویم فرض دا دی چې د مارکسیزم دا یا هغه فورمول او استنباط، چې د یو تاریخي پېر د تکامل د مطالعې پایله ده، د ټولو تاریخي پېرونو لپاره سم او د همدې لپاره باید ثابت وساتل شي.

باید وویل شي چې دا دواړه فرضونه په بشپړه توګه ناسم دي.

دا هم څو مثالونه:

۱. د تېرې پېړۍ په ځلوېښتمو کلونو کې، کله چې لاانحصاري پانګوالي موجوده نه وه، کله چې پانګوالۍ د یو څه نرمښت سره صعودي پرمختګ درلود او هغو نویو ټاټوبو ته یې پراختیا مونده، چې لا اشغال شوي نه وو او د پانګوالۍ د ناموزون تکامل قانون لا په بشپړه توګه پلي شوی نه و؛ مارکس او انګلس دې پایلې ته ورسېدل چې سوسیالیستي انقلاب په یو ټاکلي هېواد کې بریا ته رسېدلې نشي او یوازې په ټولو یا په ډېري متمدنو هېوادونو کې د عمومي ضربې په پایله کې دا انقلاب بریالی کیدای شي. دا پایله، وروسته ټولو مارکسیستانو ته په یو لارښود آر بدل شو.

خو د شلمې پېړۍ په لومړیو، په ځانګړي توګه د اولې نړیوالې جګړې په بهیر کې، کله چې ټولو ته روښانه شوه چې غیر انحصاري پانګوالي په څرګند ډول انحصاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګوالۍ ته تکامل موندلې، کله چې هسکېدلې پانګوالي په مړیژنې پانګوالي بدله شوه، کله چې جګړې د نړیوالی امپریالیستي جبهې نه رغېدونکي کمزورتیاوې ښکاره کړئ او د تکامل نامتوازن قانون دا وښوده چې پرولتاریایي انقلاب په بېلابېلو هېوادونو کې په بېلابېلو وختونو کې تر سره کېدای شي؛ لنین د مارکسیستي تیوري پر بنسټ دې پایلې ته ورسید، چې د تکامل په نویو شرایطو کې سوسیالیستي انقلاب په یو جلا هېواد کې هم بشپړې بریا ته رسیږي. لنین دا وښوده، چې په ځینو او یا ټولو متمدنو هېوادونو کې د سوسیالیستي انقلاب هم‌مهاله بریا په دغه هېوادونو کې د انقلاب د نامتوازنې ودې له امله ناشونی او د مارکس او انګلس زوړ فورمول له اوسني تاریخي شرایطو سره نور د مطابقت وړ نه دی.

څرنګه چې ښکاري دلته مور د سوسیالیزم د بریا د مسئلې په اړه دوه بېلابېلې پایلې لرو، چې نه یوازې د یو بل متناقضې دي، بلکې ان یو بل نفی کوي. هغه دګماتیستان او تلمودیان[۱۹] چې د یوې موضوع په منځپانګې کې له تعمق او تاریخي شرایطو پرته په میکانیکي ډول خبره رانقلوي، امکان لري ووایي، چې له

---

[۱۹] تلمود:د یهودانو هغه کتاب دی چې په کې د یهودو د هغو سنتونو او د موسی د شرایع تفسیر شامل دی، چې یهودو علما او روحانیونو د اجتهاد په توګه پر تورات لیکلي دي. د دې سربېره په دې کتاب کې تاریخي پېښې او اسطورې هم شاملې دي.

تلمود په دوه ډوله دی:یو د اورشلیم تلمود دی، چې د څلورمی زېږدیزی پېړۍ شاوخوا تالیف شوی او بل د بابل تلمود دی، چې په شپږمه پېړۍ کې تالیف شوی دی. یهودان، دا کتاب له تورات وروسته، یو مقدس کتاب ګڼي.

دلته له تلمودیانو څخه موخه، هغه کسان دي چې د تیوریګانو سره د منطقي چلند پر ځای دګماتیستي او کتابي چلند کوي. پښتو. ژ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې دوو پايلو يوه يې مطلقاً غلطه او بايد لېرې واچول شي او بله يې مطلقاً سمه او بايد د تکامل پر ټولو پېرونو يو ډول تطبيق شي. مارکسيستان دا کار نه کوي، خو په دې پوهېږي چې دګماتيستان او تلمودیان تېروتنه کوي. مارکسيستان دا کار نه کوي، خو په دې پوهېږي چې دا دواړه پايلې سمې دي، خو نه په مطلق ډول؛ هره پايله د خپل مهال سره سمه ده:د مارکس او انګلس پايله د غيرانحصاري پانګوالۍ د دورې لپاره او د لنين پايله د انحصاري پانګوالۍ د دورې لپاره سمه ده.

۲. انګلس په «انتي دورينګ» کتاب کې ويلي دي، چې له سوسيالیستي انقلاب وروسته، دولت د زوال لپاره چمتوالی نيسي. زمونږ په هېواد کې د سوسيالیستي انقلاب له برياوروسته په ګوند کې دګماتيستان او تلمودیان د دې غوښتونکي شول چې ګوند بايد د دولت د ژر زوال، د دولتي سازمانونو د انحلال او له دايمي پوځ څخه د تېرېدنې لپاره قدمونه پورته کړي.

خو د نړيوال شته وضعيت د مطالعې له مخې، د شوروي مارکسيستان دې پايلې ته ورسېدل چې د پانګوالۍ له کلابندۍ سره، کله چې يوازې په يو هېواد کې سوسيالیستي انقلاب بري ته رسېدلی او په نورو ټولو هېوادونو کې پانګوالي واکمنه ده، د دې لپاره چې دغه هېواد د پانګوالۍ د کلابندۍ په وسيله ونه ځپل شي، د بريمن انقلاب ټاټوبی نه بايد کمزوری شي، بلکې بايد په هره برخه کې خپل دولت، د دولت ارګانونه، استخباراتي ارګانونه او پوځي ارګانونه پياوړي کړي.

روسي مارکسيستان دې پايلې ته ورسېدل، چې د انګلس دا فورمول هغه وخت سم دی چې سوسيالیزم په ټولو او يا ډېرې هېوادونو کې بريا ته ورسېږي؛ دا فورمول په داسې شرايطو کې د تطبيق وړ نه دی، چې سوسيالیزم يوازې په يو هېواد کې بري ته رسېدلی وي او په نورو ټولو هېوادونو کې پانګوالي واکمنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ښکاره ده چې دلته د سوسیالیستي دولت د برخلیک په اړه دوه فورمولونه لروو، چې هر یو بل نفي کوي.

دګماتیستان او تلمودیان ممکن ووایي چې دا ډول وضعیت د زغم نه وړ شرایط رامینځته کوي، ښایي یو له دې فورمولونو د مطلق غلط فورمول په توګه لېرې واچول شي او بل فورمول د مطلق سم فورمول په توګه، د سوسیالستي دولت د تکامل په ټولو مهالونو تطبیق شي. مارکسیستان دا کار نشي کولای، خو په دې پوهېږي چې دګماتیستان او تلمودیان ناسم دي. دا دواړه فورمولونه، سم دي؛ خو نه په مطلق ډول، هر یو یې د خپل وخت لپاره سم دی:د شوروي مارکسیستانو فورمول په یو او یا څو هېوادونو کې د سوسیالیزم د بریا پر مهال سم دی، خو د انګلس فورمول د هغه وخت لپاره سم دی، چې په بېلابېلو هېوادونو کې د سوسیالیزم مداومه بریا په ډېرې هیوادونو کې د سوسیالیزم د بریا لامل او د دغه فورمول د تطبیق لپاره اړین شرایط رامینځته شوي وي.

د دې مثالونو شمېر زیاتولی شوو.

د ژبې د مسئلې په تړاو هم دغه شان دوه بېلابېل فورمولونه سم دي. هغه فورمولونه چې د ستالین له بېلابېلو آثارو اخیستل شوي او د ملګري خولوپف په لیک کې رانقل شوي، د ستالین «د ژبپوهنې په اړه د مارکسیزم لید دود» اثر ته مراجعه کوي. د دې مراجعې پایله دا ده، چې د دوو ژبو د امتزاج له امله معمولاً یوه ژبه بریالی او بله نابودېږي او د دوو ژبو امتزاج، نوې ژبه ـ درېمګړې ژبه ـ نه زېږوي، بلکې له دې ژبو یوه ژبه خوندي پاتې کېږي. هغه بیا د شوروي اتحاد د کمونیست (بلشویک) ګوند شپاړسمې کنګرې ته د ستالین وړاندې شوي ګزارش ته مراجعه کوي، چې په کې ویل شوي چې په نړیواله کچه د سوسیالیزم د بریا په دوران کې، کله چې سوسیالیزم پیاوړی کېږي او د ورځني ژوند برخه ګرځي، ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې په ناچاره په يوې عامې ژبې کې ګډېږي، چې ښکاره ده دا ژبه نه وليکاروسي[۲۰] ژبه ده او نه هم آلماني ژبه، بلکې يوه نوې ژبه ده. د دې دوو فورمولونو په پرتليز جاج ليدل کيږي چې دا دوه فورمولونه نه يوازې دا چې له يو بل سره اړخ نه لګوي، بلکې يو بل نفي کوي.د دې وضعيت په ليدو، ملګری خولوپف نهيلی کيږي او په خپل ليک کې کاږي: «ستا له مقالې په دې پوه شوم چې د ژبو له امتزاج څخه هيڅکله نوې ژبې نه رامينځته کيږي، خو د مقالې مخکې، د شوروي اتحاد د کمونيست (بلشويک) ګوند په شپاږسمه کنګره کې ستا د وينا له مخې مې کلک باور درلود، چې په کمونيزم کې ټولې ژبې په يوه عمومي ژبه کې ګډېږي.»

ښکاره ده چې په دې دوو فورمولونو کې د تناقض له کشفولو وروسته او په دې کلک باور درلودل چې دا تناقض بايد له مينځه لاړ شي، ملګری خولوپف د دې اړتيا ويني چې له دې فورمولونو څخه يو يې بايد د غلط فورمول په توګه لېرې واچول شي او بل يې د ټولو پېرونو او هېوادونو لپاره د سم فورمول په توګه کلک ونيول شي، خو دا چې کوم فورمول بايد کلک ونيول شي، هغه وربانديې نه پوهېږي. د دې وضعيت پايله نهيليتوب دی. ملګری خولوپف ان شک نه کوي چې کيدای شي دواړه فورمولونه سم وي، خو هر يو د خپل وخت لپاره.

دګماتيستان او تلمودیان، چې د موضوع ماهيت نه سپړي، په ميکانيکي ډول او له هغو تاريخي شرايطو پرته خبرې رانقلوي چې موضوع ورسره تړاو لري. د همدې لپاره دوی له نهيليتوب سره مخ کيږي. که چيرې يو څوک د موضوعاتو منځپانګه

---

[۲۰] وليکاروسان(لوی روسان)چې منظور په خپله روسان دي.روسانو له انقلاب مخکې ځان ته وليکاروس او اوکرائينيانو ته يې«مالوروس»(کوچني روسان) او بلاروسانو يې«بلوروس» (سپين روسان) ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ارزونې لاندې ونيسي، نو هيڅکله به نهيلی نشي. حقيقت دا دی چې د ستالين «د ژبپوهنې په اړه د مارکسيزم ليددود» رساله او د ګوند په شپاړسمې کنګرې کې د ستالين وينا، دوه بشپړ جلا پېرونه په پام کې لري او د همدې لپاره دوه مختلف فورمولونه وړاندې کيږي.

هغه فورمول چې ستالين په خپله رساله کې وړاندی کړی او هلته د ژبو له امتزاج غږېږي، موخه يې په نړيواله کچه د سوسياليزم له بريا مخکې پېر دی، کله چې په نړۍ کې زېښاکګرې طبقې حاکمه ځواکمنتيا لري؛ کله چې ښکېلاک او ملي ستم په خپل قوت پاتی دی؛ کله چې د دولتونو تر مينځ د اختلافاتو له امله د ملتونو تر مينځ ملي جلاتوب او دوه اړخيزه بی اعتمادي په خپل ځای ټينګه پاتی ده؛ کله چې د ملي حقوقو تساوی شتون نلري ـ ځرنګه چې اوس يې نلري؛ کله چې د ژبو امتزاج، د يوې ژبې د واکمنتيا لپاره د مبارزې له لارې تر سره کيږي؛ کله چې د ملتونو او ژبو تر مينځ د سوله ايزې او دوستانه مرستې لپاره اړين شرايط نه وي ـ ځنګه چې اوس نشته؛ او کله چې د ژبو متقابله مرسته او بډاينه، چې ورته اړتيا ده، نه وي، بلکې ځينې ژبې مدغمې او ځينې ژبې بريالې کړای شي؛ نو ښکاره ده چې په داسې شرايطو کې يوازې غالبې او مغلوبې ژبې لرلی شوو. دقيقاً همدا شرايط دي چې د ستالين فورمول يې په پام کې نيسي کله چې وايي، چې د ژبو د امتزاج ـ د بېلګې په توګه د دوو ژبو د امتزاج ـ پايله نه يوه نوې ژبه، بلکې د يوې ژبې بريا او د بلې ژبې ماته ده.

د ستالين دويم فورمول، چې په يوې عامې ژبې کې د نورو ژبو ادغام ته په کې اشاره شوی او د ګوند شپاړسمې کنګرې ته د هغه له وينا اخيستل شوی، بل پېر په پام کې لري: په نړيواله کچه د سوسياليزم تر بريا وروسته پېر؛ کله چې نور نړيوال امپرياليزم شتون نه لري؛ کله چې زېښاکګرې طبقې نابودې شوي او د ملي ستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښکېلاک جړېې ایستل شوي؛ کله چې ملي جلاتوب او متقابلې بی اعتمادی خپل ځای متقابل اعتماد او د ملتونو تر مینځ حسنه اړیکو ته پریښودلی؛ کله چې د ملتونو برابري پلې شوې؛ کله چې د ژبو د ځپلو او ادغاملو سیاست نور منسوخ شوی؛ کله چې د ملتونو تر مینځ مرسته رامینځته شوې او ملي ژبو ته دا شونتیا برابره شوی چې د ګډې مرستې له لارې په آزاده توګه یوه او بله بډایه کړي؛ نو ښکاره ده چې په دې شرایطو کې نور د ځینو ژبو ځپل او نابودول او د ځینو ژبو بریا د پوښتنې وړ هم نه ده. په دغسې پېر کې نور دوه ژبې نه لرو، چې د ژبو په مبارزه کې یوه یې ماته وخوري او بله یې بریالی راوځي، بلکې سلګونه ملي ژبې لرو چې له مینځه به یې د ملتونو د اوږدې اقتصادي، سیاسي او کلتوري مرستو په پایله کې، لومړی تر ټولو بډایه او متحده سیمه ایزې ژبې راڅرګندېږي او ورپسې به دا سیمه ایزې ژبې په یوې واحدې نړیوالې ژبې کې ګډېږي؛ ښکاره ده، چې دا ژبه به نه الماني وي، نه روسي، نه انګلیسي، بلکې یوه نوې ژبه به وي، چې د ملي او سیمه ایزو ژبو ښه عناصر به یې جذب کړي وي.

دا دوه جلا فورمولونه چې د ټولنې د دوو بېلابېلو تکاملي پېرونو سره تړاو لري او دقیقاً د دې لپاره، چې له دوو پېرونو سره تړاو لري، نو دواړه سم دي ـ خو هر یو د خپل پېر لپاره.

دا غوښتنه چې دا فورمولونه دې یو بل سره تناقض ونلري او یو بل دې نفی نکړي، هومره بابېزه ده، لکه چې وغوښتل شي د پانګوالۍ د واکمنۍ پېر دې د سوسیالیزم د واکمنۍ له پېر سره تناقض ونلري او سوسیالیزم او پانګوالي نباید یو بل نفی کړي.

دګماتیستان او تلمودیان، مارکسیزم او د مارکسیزم جلا پایلې او فورمولونه د متعصبانه عقایدو هغه ټولګه ګڼي، چې د ټولنې د تکامل له شرایطو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

«هیڅکله» بدلون نه مومي او د بدلون په وړاندې مقاومت کوي. دوې باور لري که چیرې دا پایلې او فورمولونه په ښه توګه زده کړي او په تصادفي ډول یې نقل کړي، نو دوې به د هرې ستونزې د حلولو توان ولري؛ خیال کوي چې په حافظه کې د دې پایلو او فورمولونو ثبتول به وکړاي شي دا پایلې او فورمولونه به د ټولو مهالونو او هېوادونو او د ژوندانه ټولو برخو لپاره کارنده کړي. خو داسې باور به یوازې هغه کسان ولري چې د مارکسیزم لیکنې ګوري خو منځپانګه یې نه وینې، دوی کولای شي مارکسیزم له یاده زده کړي، خو په مانا یې نه پوهېږي.

مارکسیزم د طبیعت او د ټولنې د تکامل د قوانینو علم، د ستمځپلو او استثمار شویو ولسونو د انقلاب علم، په ټولو هېوادونو کې د سوسیالیزم د بریا علم او د کمونیستي ټولنې د جوړولو علم دی. مارکسیزم د علم په توګه نشي کولای ثابت پاتې شي، تکامل کوي او بشپړېږي. مارکسیزم د خپل تکامل په ترڅ کې نشي کولای د تازه تجربو او نویو معلوماتو په وسیله بدای نشي او په دې توګه ځینې فورمولونه او پایلې یې د وخت په تېرېدو سره خپل ځای نویو فورمولونو او پایلو ته ونسپاري، هغه فورمولونو او پایلو ته چې له نویو تاریخي دندو سره اړخ لګوي. مارکسیزم داسې پایلې او فرمولونه نه مني چې د ټولو دورو او پېرونو لپاره ثابت وي. مارکسیزم د هر ډول دګماتیزم دښمن دی.

۱۸جولای ۱۹۵۰

پراودا، ۲ اګست۱۹۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ژبه يوه وسيله ده، هغه افزار دی چې په مرسته يې خلک له يو بل سره خبرې اترې کوي، اندونه سره بدلوي رابدلوي او يو بل پيژني. له هغه ځايه چې ژبه له فکر سره مستقيم تړاو لري؛ نو فکر په کليمو کې ثبت او سمبالوي او بيا د کليمو د ترکيبولو له لارې هغه په جملو بدلوي. نو ويلی شوو چې ژبه د فکر او د انسان د فکري فعاليتونو د برياوو د بهير پايله ده چې په انساني ټولنه کې د اندونو مبادله شوني کوي.»

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library